# سور تعويذ

(لنډې کيسې)

Ketabton.com

قاضي محمد حسن حقيار

۱۳۹٤ لمريز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تحريك يادښت

د افغانستان ملي تحريك د (۱۳۹۳ ل) کال په پيل کې له خپلو ګرانو هېوادوالو سره ژمنه کړې وه چې د دې کال په بهير کې به (شل عنوانونه) بېلا بېل ديني، علمي، ادبي او ټولنيز اثار خپلې ټولنې ته وړاندې کوي. ملي تحريك دا ژمنه د ياد کال د کب پر (۲۸)مه نېټه پوره او د يوې پرتمينې غونډې په ترڅ کې يې شل عنوانونه علمي اثار هېوادوالو ته وړاندې کړل. ملي تحريك په ياده غونډه کې ژمنه وکړه چې د (۱۳۹۴ ل) کال په بهير کې به انشاء الله د خداى (ج) په نصرت ټول ټال سل (۱۰۰) عنوانه بېلابېل علمي اثار ټولنې ته وړاندې کوي. طبيعي خبره ده چې دا اسانه کار نه دى، ډېر زيات زيار او زحمت ته اړتيا لري، خو ملي تحريك ټينګ هوډ کړى چې خپله دا ژمنه به هم د تېرې ژمنې په څېر عملي کوي. دا اثر چې ستاسو په لاس کې دى د همدې (سل عنوانونو) ژمنه کړو اثارو له جملې څخه دى، چې د چاپ جامه اغوندي. ملي تحريك هيله لري چې له دې اثر څخه به زموږ هېوادوال په زړه پورې ګټه پورته کړي. ملي تحريك له ټولو هغو ليکوالو، ژباړونکو، سمونچارو، مالي او معنوي مرستندويانو او چاپ چارو څخه چې ددې اثارو د چاپ په دې ټول بهير کې يې يو بل سره مرسته او ملګرتيا کړې او دا فرهنګي بهير يې بريالى کړى، د زړه له کومې مننه کوي او کور ودانى ورته وايي.

د هېواد د فرهنګ د ښېرازۍ په هيله

د افغانستان ملي تحريك فرهنګي څانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فیصله

ځانګې په دې جرګې پورې خپلې ډېرې هیلې تړلې وې، له نورو جرګو څخه ددې جرګې توپیر دا و چې پدې جرګه کې ددې او ددې دخسرګنۍ دقامونو له مشرانو پرته نورو ډېرومخورو سپین ږیرو هم ګډون کړی وو.خو، د خسرګنۍ چرګ یې همدا یوه پښه درلوده. په همدې یوه خبره ولاړ وو((ولې، ځان شرموو چې ښځې ته طلاق ورکوو؟دا کومه پښتو ده، دا کوم غیرت دی، که لېونی دی او که سپېلنی همدایې مېړه دی. که مېړه یې ګټه وټه نشي کولی، نو موږ خو یې ګټلی شو،شکر هرڅه موپرېمانه دي، دا له ډوډۍ جامو هرڅه بې غمه ده، نه ــ نه هېڅکله نه. خپلو بچیانو ته دا پېغور نه پرېږدو...))

جرګه پاڅېده او همدا چې ځانګې واورېدل، چې جرګې نتیجه ورنکړه نو سر پرې وچورلېد ،له غم او خفګان څخه یې په ډېره سختۍ په مړۍ کې ساه چلېده، دنهیلیو څپو واخېسته، په کټ کې ړنګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بنګـه وغځېـده، څـو اوږده اسـوېلي يـې وويسـتل، ژوره سـاه يـې واخيسته. د تېر څلور کلن ژوند د هرې شېبې په وريادېدلو به يې په زړه کې نرۍ څړيکه تېره شوه، اوښکو يې د کټ بوڼ لوند کړ، کله به يې خپل پلار ملامتاوه او کله هم خپل نصيب. د خيال او سوچونو بېړۍ يې لاهو شوه، ماضي ته لاړه. ځانګې ته وريادشول چې د پېغلتوب په لومړي کال يې د ژوند د نېکمرغۍ په هيله د پلار پرېکړه ومنله او په يوه لرې سيمه کې يې له يو نا پېژانده سړي سره چې تر دې دمه يې په اړه هېڅ معلومات هم نلرل واده ته زړه ښه کړ.

او هغه وخت چې دا د ناوې توب په رنګينيو کې د واده په لومړۍ شپه له مېړه سره يو ځای شوه؛ خو هغه دومره ليوني و چې اصلاً ښځه او نر يې نه پېژندل او ترپايه يې آن د ناوې توب پلو هم ددې له مخه لرې نه کړ.

هغه خفګان چې دا له مېړه سره له يو کلن ژوند وروسته هم، خپل کلي ته (پېغله) راغلله او سره لـه دې چې خسر او خواښې يې ښه پوهېدل چې زوی يـې چور لېوني دی، خوبيا يې هم دخپل خدمت لپاره يوه داسې نجلۍ ورته وکړه؛ چې د ښکلا او ځوانۍ نوم يې دهرچا پر ژبه و.

لـه جرګو او مرکو نهيلۍ شوه، بلـه لار ورتـه پاتې نه وه، مجبوره شوه چې د حکومت لمن ونيسي همدا و چې لـه مېړه څخه د رسمي بېلتون لپاره يې محکمې تـه د تللو پرېکړه وکړه، کـه څـه هـم دا د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځانګې لپاره سخته وه، چې په محکمو او څارنواليو وګرځي؛ ځکه چې په عمرکې هم کومې دولتي ادارې ته نه وه تللې، خو څه يې کړي وای بله چاره يې هم نه وه.

ځانګه په خپل ژوند کې په لومړي ځل څارنوالۍ ته لاړه، دومره کم جرئته وه چې له چاسره يې مخامخ خبرې هم نشوای کولی.

ځانګه اړتيا محکمې او څارنوالۍ ته راوستې وه؛ خو هلته ورته هرچا د شک او يوې بد اخلاقې مېرمنې په سترګه کتل.

دا حالت پر هغې ډېر دروند پرېوت، چې د يوې تورسرې په توګه يې جېب خالي دی خو په اداروکې ورسره بې مطلبه څوک خبره هم نه کوي.

لومړی ځل خو د ځانګې له سترګو هغه وخت اور والوت چې د څارنوال د مېز تر شا کښېناسته ، هغه ورته وايي چې له دې لېوني ښځه بېلتون ستا حق دی. زه دې ټول کار درته خلاصوم خو ته هم په جيبونو لږ ګوتې ووهه، دا ورته په ډېره ماته غاړه او بنده ـ بنده ژبه وايي چې ، زه په کور ناسته نجلۍ يم او پلار مې غريبکار، زه به پيسې درته له کومه کړم ؟ خو څارنوال سمدستي ځواب ورکوي ((خير که جيب دې تش دی خو ته ډېر نور څه هم لرې. ) )

څارنوالۍ د ځانګې په اړه د ډاکټر نظر وغوښت، خو ډاکټر په دولتي روغتون کې ځانګې ته وويل ددې لپاره چې معلومه شي ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

پېغله يې که مېرمن، بايد مابنام ناوخته زما شخصي کلينيک ته راشي.

د ځانګې دوسيه د پرېکړې لپاره ابتدايه محکمې ته لاړه، خو قاضي ځکه ددې پر ضد پرېکړه وکړه چې دې يې مېلمستيا ونه منله.

سره له دې چې ځانګه خبره وه د مرافعه محکمې رييس سپين ږيری سړی دی او درې مېرمنې هم لري، خو هغه مار خوړلې، له پړې يې هم وېرېده ،د وېرې او هيلې په فضا کې په چادري کې پټ مخ د قاضي مخ ته کېناسته.

له کېناستو سره سم قاضي ځانګې ته مخ ورواړاوه ((ګوره دا محکمه ده ، دلته بايد هره ښځه لوڅ مخ کېني. ))

د ځانګې زړه ودرزېد ،د قاضي په خبره يې ځان کوڼ کړ، داسې چې ګويا له سره د قاضي په خبره پوهه شوې نه وي .

قاضي بل جوړ عينکې په سترګو کړې ، د دوسيې ورقې يې واړولې راواړولې او چې د ځانګې په رنګين عکس يې سترګې ولګېدې، نو زړه يې وتخنېد ، ، د خپلې فنري څوکۍ مخ يې ځانګې ته را واړاوه ، په تونده لهجه يې ورته وويل:(( دلته په پټ مخ فيصلې نه کېږي،درته مې وويل دا محکمه ته اړه يې چې مخ لوڅ کړې. ))

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځانګې چادري پورته کړه ، او همدا چې د قاضي سترګې د ځانګې پر مخ او بدن ولګېدې نو بې اختیاره یې سترغلي په الوتلو ، وېښته نېغ ، او رږد مخ سور او د نبضونو حرکت تېز شو .

قاضي د دو سیې ورقې اړولې را اړولې ،او د هرې ورقې له اړولو سره به یې یو ځل د سترګو په کونج کې ځانګې ته وکتل ، دو سیه یې بنده او خولې یې وچې کړې ، هڅه یې وکړه چې د زړه درزا پټه کړي ،د سوداګر په خبر یې د ځانګې ټول بدن له سترګو تېر او د سترګو ګاټې یې دهغې پر مخ ورښخ کړل:(( افرین پرتا چې د مېړوخې نوم هم در باندې دی ، الله ج ښه ځواني او ښایست هم درکړی او بیا دې هم خپله حیاء ساتلې ده ، زه نورتا په دې کړاو کې نشم لیدلی، ستا د خلاصون لار شته. ))

ځانګه وغوړېده له خوښۍ پر خپله ځوکۍ نېغه او وروړاندې شوه قاضي چې شېبه په شېبه یې دوږي لېوه په څېر پر شونډو ژبه راښکله وویل: ((ته خو ځوانه یې هرو مرو به له چا سره ژوند شریکوې نو آیا دا ښه نه ده چې زما غوندې یو مهربانه سړی د ژوند ملګری کړې ؟؟. دومره به دې ونازوم چې د ژوند ټولې سترتیاوې به دې هېرې شي. ))

ځانګه بې صبره شوه ، په تونده لهجه یې ورته وویل: قاضي صیب دا څه وایې زه خو ستا د لمسۍ پر ځای یم او بیا ته خو درې ښځې...

(c) ketabton.com: The Digital Library

قاضي ورته په وروستي ځل مخ ور واړاوه:(( خوښه دې بیا به ارمان کوې. )) او له همدې سره ووت.

دوه ورځې وروسته، چې ځانګه محکمې ته لاړه نو قاضي ورته وويل چې څنګه زما پيشنهاد دې ومانه ؟ د ځانګې سترګې ډنډ اوکيڼې او ښي خواته د سر په خوځولو يې اوښکې اخوا دېخوا وشيندل شوې. قاضي هم پر شونډو يوه ترخه موسکا تېره کړه په غرور يې وويل: ((ښه نو زما فيصله به دې هم خوښه شي ))

خولا يې خپله فيصله نيمه هم نه وه اورولې چې ځانګه په چيغه له دفتره ووته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ارزښتونه

حفیظ او سعیده له ګاونډیتوب سربېره د عمه او ماما بچیان هم و، په یو کور کې زېږېدلي، لوبېدلي او کوچنیتوب یې هم یو ځای تېری شوی و، د عمر له پخېدلو سره یې جوخت له یو بل سره مینه هم پخه شوې وه، د دواړو له مور او پلار پرته آن نور دوستان هم د دوی پر مینې خبر شوي وو.

د حفیظ مور او پلار څو څو ځله د سعیدې پر مو او پلار حفیظ ته د سعیدې پر غوښتلو جرګې وکړې خو د سعیدې موربه ورته همدا یوه خبره کوله چې زما لور مکتبۍ ده او حفیظ بې سواده او خشتمال ،ولې خشتمال هلک او دا سې چاته لور ورکړم چې که اسمان شین وی نو زما لوربه ډوډۍ خوري او که وریځ او باران نو وږې به وي.

جرګو مرکو ،عذر او ننواتو کار ونکړ،نه د حفیظ وچو شونډو تاثیر وکړ اونه د سعیدې اوښکو او پټ پټ ژړا.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سعیدې د مور ضد له حفیظ او هغې دواړو خوبونه تښتولي و ثوځله یې پرېکړه وکړه چې وطن پرېږدي او چېرته په کوم بل ځای کې په بل نوم ګډ ژوند پیل کړي خو بیا هم د خلکو پیغور او د مور او پلار سر ټیټي به یې د دې نېت په پښو کې زولنې شوې، دواړو پرېکړه وکړه چې که دوی د یو بل نشول نو ټول عمر به له بل چا سره واده نه کوي او سرونه به سپینوی خو پښتني پېغلې کله په خپل واک وي مور یې د هغې له خوښې او مشورې پرته خپل وراره ته چې همدلته یې پوهنتون لوستی و په نوم کړه.

حفیظ به پر لار ګوتې شمېرلې او له ځان سره به غږېده هم ،خو بیا هم پلار یې د سعیدې د مور او پلار له ضده له بل کور څخه ورته د ستمال راووړ.

خیر دواړو نوی ژوند پیل کړ، کال یو نیم وروسته الله ج حفیظ ته زوی او سعیدې ته لور ورکړه.

ورځې او شپې تېرېدلې، حفیظ پوهېده چې دده بې سوادي له سعیدی سره دده د واده یوا خینی خنډ و او همدا بې سوادی ورته پیغور شوه نو کلک هوډ یې وکړ چې په هره بیه وي پر بچیانو به پوره تعلیم کوي او خپله به هم کوم کسب یا دوی همدا و چې خپله یې هم ترکاڼي یاده کړه او پر زوی یې هم لوړې زده کړې وکړې ،تردې چې په کلي او کور کې یې د زوی د اخلاقو ، ښکلا او استعداد نکلونه دهرچا په خوله و ،د سعیدې لور هم د کلي ښکلې پېغله شوه. همدا

(c) ketabton.com: The Digital Library

شبېږ وي چې په افغانستان کې د مجاهدينو انقلاب بريالی او کورنۍ جګړې پيل شوي نو رنو د مامور قدر او اهميت کم شو، لوست اهميت نه درلود ،د پيسو ارزښت را ولوېده په معاشونو ژوند نه کېده ،ډګروالانو او رئيسانو به د ښار پر واټونو کچالو پلورل ،لوی لوی رئيسان او مديران به له بې سواده دوکاندارانو سره منشيان و ، د سعيدې د ميړه روزګار او اقتصاد ورځ پر ورځ کمزوری کېده او د حفيظ ژوند ښه کېده.

حفيظ داځل په سعيدې پسې جرګه ورولېږله او د هغې لور يې خپل لوستي زوی ته وغوښته خو داځل سعيدې له دې رشتې څخه په کلکه انکار وکړ، جرګې ته يې وويل چې ليونۍ خو نده چې خپله لور ،انجنير يا داسې چاته ورکړي چې ديوې مياشتې معاش يې د يو مزدورد لسو ورځو له مزدورۍ سره برابرندی او که ښاروالي يې ګاډی پر سړک درولوته پرېږدي نو ددې لور به ډوډۍ خوري او که پرې يې نږدي نو لور به يې وږې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بـــاور

دوبۍ ته دا زما لومړی سفر نه و ، خو لومړی ځل و ، چې په یوه اسلامي نړیوال سیمینار کې ګډون کوم. سیمینار ته د نړۍ له ګوټ ـ ګوټ څخه رابلل شویو عالمانو ته په شانداره او قیمتي هوټل کې ځای نیول شوی وو.

ما ته لا میاشت وړاندې د مقالې لپاره ( په اسلام کې د حیا او اخلاقو ارزښت )موضوع راکړل شوې وه.

دوبۍ ته زما له سفر څخه زما ډېر دوبۍ مېشتي دوستان خبرشوي وو ، خو پرېکړه مو داوه چې له سیمینار وروسته به د دوبۍ له ښکلا خوند اخلو.

د سیمینار په وروستي ماښام مې نسیم ته په ټېلیفون وویل، چې سبا ته له موټر سره راشي، چې دوبۍ ښه وګورو ، سبا زه ،هغه او زموږ بل ملګری عزیز ووتلو ،ډېرې اسمانڅکې ودانۍ او پارکونه مو ولیدل.نسیم دغرمنۍ لپاره د سمندر پر غاړه یوه لوکس هوټل ته بوتللو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دځــو پــوړیزه هوټــل لمــن ترډېــره دســمندر لــه پاســه وه ، ښــکلیو مصنوعي ځړوبیو(ابشارونو ) ، پارکونو او چمنونو هوټل ته لاښکلا ورکړې وه.

د ډوډۍ سیستم یې بوفه وو ، پـه یوه لوی سالون کې لـه ډول ډول غوښــو وریجو ،ســلاد ، پیرنــي او تــازه میــوو ډک دیګــي او لوښــي پــراوړده مېزکتــار ایښــي وو او د ســالون بــر ســرته ســندرغاړو نرمــه موسیقي غږوله.

نسیم دخوړو مېز ته نږدې ځای ناستې ته وتاکه.

موږلا پـه خوړو پیـل نـه وو کـړی، چـې شپږ- اوه انجـونې ددیګیـو مېز ته راغللې.ټولې ښکلې او تـازه وې، خو یـوه پکـې دومـره ښـکلې وه، چې تابه ویل د دوبۍ مصنوعي ښکلا تـه مـاتې ورکـوي ،ټولـو پـه قـابونو کـې ځانتـه خـواړه واخېسـتل اوخپلـو مېزونـو تـه ولاړې. ددې انجلـۍ پـه لیـدلو نـو نـور زمـوږ خـولې دچولـه کېـدو نـه وې، عزیـز سمدستي پیل کړ:(دا خو سمه پري زاده ده، اه خلک چې وایي پـه دنیـا کـې پـري زادې شـته دي هغـه خـو همـداده ) نسـیم مـخ راواړاوه : (ددې ځای د ناسـتې ګټـه دې ولیـده، داخـو یـې اول برکـت دی ، نـورې بـه هـم وګورې )

موږلا همداخبرې کولې، چې دا انجلۍ بیا راغلله او ددیګیـو مېـز ته ودرېده. نسیم پـه شـوخۍ ددې لپـاره چـې دا انجلـۍ وپوهـوي، چـې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دهمدې په اړه خبرې کوو ، کله کله دهغې خواته اشاره هم کوي په لوړ غږیې وویل: ( اف داسترګې دي، که له شرابوډکې پیالې ، والله که خو دزرافې غړۍ هم دومره دنګه وي، که په دې ټوله دوبۍ کې بله ښکلې نه وي همداورته بس ده. دابه دکوم ځای وي ؟

چاپېریال عربي وو. موږ ډاډه وو ، چې هغه په پښتو نه پوهېږي. عزیز وویل ( ماته خو مالیزیایی ښکاري ) نسیم ځواب ورکړ: ( ځه ورک شه په مالیزیایانوکې دومره لوړه ونه او مناسب اندام له کومه شو ؟دهغوی مخونه خو بې نمکه تک سپین دي، دابه مصرۍ او یا ترکۍ وي. ته یې قداو دمخ سرخي وګوره ) )

نور نو دشوخۍ پیریان پر ما هم راغلل: :(( ماته خو هندۍ یا پاکستانۍ ښکاري تاسو خو یې په لاسونو دې بنګړیو او دنکرېزو نقش ته وګورئ، وربل او جامې یې هم هندۍ او پاکستانۍ ښکاري ، ) ) انجلۍ بد بد راوکتل قابونه یې له خوړو ډک کړل او ولاړه. ما ورپسې دسترګو په کونج کې کتل کباب یې په نورو نجونو وویشه او کېناسته.

لږه شېبه وروسته بیا راغلله ، نسیم یې په لیدلو وویل: (( لکه چې دابدرۍ جماله کوم دیو له کوه قاف څخه راتښتولې ده، آخ خدایه دابه دکوم بختور سیف الملوک په نصیب وي ) )

(c) ketabton.com: The Digital Library

عزیز یې خبرې ورپرې کړې: (( یاره یوه شپه یې په یو میلیون ډالر ارزي )) ماته یې مخ کړ: (( که څنګه اسد استاده ؟ ))ماورته وویل: ((یو میلیون نه، سل میلیونه هم پرې کم دي. پیسه که هرڅومره ډېره شي بیه او وروستی حد لري خو دا ښکلا خو نه حد لري او نه ورته څوک بیه ټاکلی شي، یوائې دشونډو دښکلا انځورولو ته یې قلم یو سمندر رنګ غواړي )) هغې بیا هم خپل قابونه ډک کړل او روانه شو. خواړه یې پرنورو وېشل او کېناسته. لږ وروسته بیا راغلله نسیم ددې لپاره چې بیاهغه په غوږ ووهي په لوړ غږ وویل :( که کوم تکړه هنرمند یې انځور وباسي نو نور به څوک دپیکاسو انځورونه او میناتورۍ هم وانخلي. ))

عزیز ورغبرګه کړه (( له خدای نه جار شم چې یا یې دومره ښکلې نه وای پیدا کړې او یا یې موږ ته دصبر طاقت راکړی وای ))

دسترګو په کونجو کې یې داسې راکتل چې دهربانه په خوځېدلو یې موږ ته کرکه ورېده.

زماهم طاقت رانغی:(( دوی اوس هم زموږپوروړي دي که موږ بدرنګه نه وای نو ددوی ښکلا څه ښکارېده سپوږمۍ په تیاره کې ښه ځلېږي طبیعت سهوه شوی نه دی، که ټول انسانان ښکلي وای نو نن به ولې ددې یوې په توصیف له موږ او تاسو ډوډۍ پاتې کېده ))

مالا خبرې کولې چې هغه خپل مېز ته روانه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نور نو زموږ دوتلو وخت وو ، چې یوچا زما پر اوږه لاس کېښود ، مالا مخ وراړولی نه وو چې دهغه خبرې مې غوږ ته راننوتې (( سلام ورور ! وخته مې لیدلی وې ماویل پرېږده چې ډوډۍ وخورې بیا به درسره جوړپخیر وکړم )) دقاضي پاچا په لیدلو خوښ شوم، ورپاڅېدم ستړي مه شي مې ورسره وکړه ، دستي یې وویل عمر دې ډېر دی بیګا مې په تلویزیون کې په خبرونو کې ولیدلې له مشر حاجي صاحب سره مې یاد کړې حیران وم چې دلته به دې له چانمبر پیدا کړم، ډېر وخت مې نه یې لیدلی، ترې ومې پوښتل چې ستا کور خو په کویټ کې دی دلته څه کوې؟ ویې ویل چې د زوی واده مې تیار و ،کورنۍ مې پرېکړه وکړه چې د واده مراسم په دوبۍ کې جوړ کړو ،پرون یې همدلته واده وو، دوه -درې ورځې نور هم په دوبۍ کې یو بېرته کویټ ته ځو.

کېناستو یو ساعت مو د خپل ګډ کلي په اړه خبرې وکړې په وطن کې یې دخپلو دوستانو اوځمکو پوښتنه رانه وکړه .

ترې و مې پوښتل چې که څه هم زامن دې په کویټ کې لوی شوي او ډېر یې نه پیژنم خوبیا هم د کوم یوه واده وو اومېرمن یې دکوم ځای د ه ؟هغه ځواب راکړ چې ددریم زوی واده مې و اوخپله ورېره دمشر حاجي صاحب لور سارا مې ورته کړې ته خو خبر یې چې هغوی هم له موږ سره په کویت کې اوسېږي؟ سارا خو به ته هم پېژنې ! هغه خو تکړه لیکواله او شاعره ده زموږ ټوله کورنۍ تا پیژني، په

(c) ketabton.com: The Digital Library

انټرنېټ کې دې مضامین لولي او احترام درته لري، ټول راغلي، همدلته دي اوس د سمندر پرغاړه پارک ته لاړل ، راځه چې له ټولو سره دې معرفي کړم چای او شربت به هم له موږ سره وڅښې) له همدې سره یې له لاسه ونیولم بې سوال او ځوابه یې روان کړم. د سارا د نوم په اورېدلو زما هم تلوسه ډېره شوه غایبانه شناخت مې ورسره و په انټرنېټ کې مې ورسره ډېر چټ کړی و .

ټول له اوږده مېز څخه راتاو ناست وو د قاضي پاچا له خولې زما د نوم او تخلص په اورېدلو ټول ودرېدل ، لاسونه یې پرسینه کېښودل پاچا ماته ګوته ونیوه: (اسد جان خو زموږ د کلي او سیمې ویاړ دی. په ده موستر ګې هسکې دي. ) له همدې سره یې د مېز برسرته نجلۍ او ترڅنګ یې ولاړ ځوان ته ګوته ونیوه: ((ساراجانه مې ورېره او اینګورده ، حامدجان مې ځوی دی پرون د دوی واده وو )) د نجلۍ په لیدلو زما له پښو ځمکه وتښتېده ، وارخطا شوم: ( هلکه داخو هماغه ده )، له ډېر خجالته مې پر تندي خوله راغلله. هغې هم ټکان وخوړ سره وګرځېده .پاچا خپلو خبروته دوام ورکړ (( ساراجانې ، تا خو به اسد استاد ډېر یاداوه ښه شوه چې د واده د خوشحالۍ ترڅنګ دې دده د نږدې لیدلو خوشحالي هم پر برخه شوه )) سارا وارخطا شوه. لکه ترهېدلې هوسۍ په حیرانتیا یې ویوښتل بابا دا ته څه وایې: ( دا به استاد اسد نه وي ، [ژبه یې بنده

(c) ketabton.com: The Digital Library

بنده شوه ]نه نه دا هغه کېدلی نشي ، هغه ما پخپل ذهن کې بل ډول انځور کړی دی، دا نه دی !.)

له ډېره شرمه زما سترګې پر ځمکې ګنډل شوې وې ، رښا ورځ رابانديې تیاره ده ، مخامخ ورته کتلی نشم. پاچا ورته په خندا وویل( نه بچیه اسد همدادی تالکه چې سپین ږیری بللی وو که څنګه ؟) دسارا پر تندي هم خوله راماته شوه په طنز او او ریشخند یې -چې بل چا نه محسوساوه او ټول باریې یوائې زما پر اوږو وو- ورته وویل (هو بابا د استاد لیکنې مې ډېرې اورېدلې او لوستې وې او اوس چې په خوږو پسې تللم نودرې واريې مې بیا هم دده استادانه او فلسفي خبرې واورېدلې اوښه شو چې ژر مې نور هم وپیژنده !)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بختور واده

کله چې دفتر ته ننوتم د میز پر سر مې دبلنې په یو ډېر ښکلي او قیمتي کارت سترګې ولګېدلې و مې سپړود د کارت په منځ کې په طلایي لیک کښل شوي وو: ( ډاکټر عبد الباري فهیم او دکتورس مرینا فهیم غواړي چې دخپل نېکمرغه واده څلورمه کلیزه د شاندارو مراسمو په ترځ کې ولمانځي ،له دې کبله له محترم استاد (عاطفي )څخه هیله کېږي چې دې محفل ته په خپلو راتللو سره ښکلا ورکړي. ) )

د کارت په لوستلو د سوچ سمندر لاهو کړم او له ځان مې د پوښتنو امیل جوړ کړ: دا ډاکټر عبد الباري به څوک وي ؟ سرجن دکتورس مرینا څوک ده؟له ما سره څه پېژندګلوي لري ؟ دا او دې ته ورته نورې پوښتنې مې له ځانه سره ښکته پورته کولې، چې تیلیفون وشرنګېد غوږې مې پورته کړ له هغې خوا راته وویل شول چې هغه د ډاکټر عبدالباري دوست دی او دنده یې ورکړې چې که زه کویټې ته دهغه مراسمو ته ورځم چې هغه راته دالوتکې ټکټ واخلي. .ناڅاپه مې ټکان وخوړ لکه څوک چې د بربښنا لوڅ مزي ته لاس وروړي ، د ذهن غشی مې پنځه کاله شاته ولاړ ، تېر هرڅه مې یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځل بیا د ذهن پر سکرین راوګرځېدل. هغه وخت چې د کابل ساړه ژمي خپل جال غوړولی ،دکابل هسکوغرونو ، بربنډو ونو ، دنګو ماڼیو او ....سپین کفن اغوستی و ،دمیز شاته ایښې بخارۍ ته مې خپل لاسونه تودول، چې یوغنم رنګه دنګ لوړ پوزی، هډور ویښ او چالاکه ځوان مې مخې ته عریضه کېښوده ، ځان یې عبدالباري او د هلمند اوسېدونکی راوښود او د روغتون دریاست په کمبوداتو کې یې د اجیر په بست کې د ځان د تقرر غوښتنه کړې وه، دزده کړې پوښتنه مې ترې وکړه ویې ویل چې نهم یې لوستی او لسم ته بریالی شوی و چې عسکرۍ ته یې ونیوه .

ما هم ورسره موافقه وکړه . عبدالباري له دفتره سره مینه درلوده د حاضرۍ پابند وو ،د شپې له خوا به په روغتون کې اوسېده کله کله به خبرېدم چې دخپل کار تر څنګه دنرسانو په کار کې هم ګوتې وهي ، پیچکاري او د ټپونو پانسمان یې هم زده کړی دی. پرهغه دنرسانو لاس سپک وو ،د معاشونو کموالي له وظیفې سره د ډاکټرانو او نرسانو مینه کمه کړې وه .ډېر وخت به چې کوم نوکریوال نرس د شپې له وظیفې پټېده نو له باري سره به یې غوږ جنګاوه او هغه به هم ورته سینه وډبوله.

کال لانه وو پوره شوی چې باري د نسخو لوستل زده کړل، ځینې دواګانې یې هم وپېژندلې او دټپونو په پانسمان، پیچکاري، سېروم. یې ښه لاس چلیده ، مخ ماتی او خدمتي هلک و ، ماهم دروغتون د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوا ګانو د ډيپو د معتمد په توګه وټاکه. ورځې او شپې تېرېدلې ،بله ورځ خبر شوم چې باري د مريني په نوم له يوې کابلۍ ښوونکې سره کوژده کړې. ماته په پيل کې دا خبره ځکه ټوکه ښکاره شوه چې يو خو عبدالباري په وطن کې ښځه او اولادونه درلودل بل دا چې اقتصاد يې هم دبل واده اجازه نه ورکوله ، خود مرينې پلار هم نيستۍ ښه ځورولی وو دباري ځوروپې هم ورته غنيمت وې.

زموږ يو همکار عبدالباري ته په ټوکه وويل چې هسې دې په دې قيمتۍ کې ځان پوروړی او په دوه غمونو ککړ کړ نو دده په شونډو نرۍ موسکا لاره وکړه اوويې ويل چې ته يوازې دعا کوه ما هرڅه سنجولي دي ،

،هغه له کوژدې يوه اونۍ وروسته مرينه دقابله ګۍ په کورس کې شامله کړه او دعملي کار د زده کړې لپاره يې دښځو او کوچنيانو په روغتون کې هم مقرره کړله، د نسخو د ليکلو او لوستلو لپاره يې سحروختي مانځه مهال دانګليسي کورس پرې پيل کړ. کال وروسته يې واده وکړ خوله واده وروسته باري له موږ سره دنده پرېښوده هغه ماته خپله استعفی راوړه خو دايی هم رانه وغوښتل چې دلته دعملي کارتصديق ورکړم ماورته وويل چې ګوره دومره تکړه نه يې اونه داتصديق درته ګټه کوي خو هغه په خندا راغبرګه کړه: (( رئيس صاحب ته نورخلاص يې دمچۍ دم ته راکړه دښامارانو نيول پرما ))

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی کویټې ته لاړ ،او مرینې همدلته خپل درس ته دوام ورکړ.

ځو میاشتې وروسته یې مرینه هم بو تلله کال یو نیم وروسته خبر شوم چې عبدالباري اوس هغه خړ پړ باري نه بلکې هلته ډاکټر عبدالباري دی او دبلوچستان په یوې لرې پرتې سیمې کې خپل روغتون او درملتون لري.

تیلیفون کوونکي سره مې کویټې ته تلل ومنل او روان شو دکویټې له ترمینل څخه لا وتلي نه وو چې یو تن چې ږیره اوبریت یې ښه چټ تراشلي د سر ویښته یې په منظمه ډول پاس اړولي وو، سرمه یې چرمي جمپر او فولادي پطلون یې په تن، راډو ساعت په لاس، ټیټانیک تایواني بوټان یې په پښو او توره نکټایي یې په سپین یخن قاق راځړولې وه. رامخې ته شو اوله ستړي مه شي او غاړه غړۍ وروسته یې لاسي بکس راڅخه واخیست، خدای شته و مې نه پیژانده، خو هغه چې له ځان سره زما سوړ چلند ولید ، نوویې ویل رییس صاحب لکه چې ودې نه پیژندم ؟ عبدالباري یم ! ماهم په ټوکه ورته وویل ځوانه داولې ؟ږیره ، پټکی هغه سپینې جامې، څادر او واسکټ دې څه کړل ؟ خو هغه داهرڅه په خندا تیرکړل له ترمینل څخه بهر یو لوکس لنډکروزر راته ولاړ په خبرو خبرو کې د کویټې ښارته ورسېدو د یوې ښکلې بنګلې مخ چې (( ډاکټر عبدالباري هاوس )) پرې لیکل شوي وو ننوتلو مرینه موهرکلي ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

راووتله کور هم ساده کور نه و او مرينه هم هغه وچه زېړه او زبېښلې مرينه نه وه، هر څه بدل بدل و.

د دري پوړيزکور پرديوالونوراځړېدليو شنو، سرو اوزېړو ګروپونو فضا رنګينه کړې وه.

سبا د کليزې مراسم پيل شول، مرينه چې منيژوب يې په تن و تازه له ارايشګاه راغلله اودکرولا ډرېوري يې هم په خپله کوله، دمحفل د ثبت لپاره د فلمبرداری کمرې ودرول شوې وې، مشهور سندرغاړي رابلل شوي وو، په څو شېبوکې څومنزله کيک دمېزپرسرکېښودل شول او عبدالباري اومرينې ته يې د غوڅولوبلنه ورکړل شوه هغوی هم دلاسونو په پړقاکې کيک غوڅ اويوبل ته په خوله کې ورکړ. د ډول ډول کبابونو يخنيو ،وريژو اووريت شويو چرګانو قابونه لادمخه د ميزپرايښودل شوي و،ميز په غوريو او قابونو وپوښل شو ، دتازه مېوو اومشروباتو پتنوسو سرپه سر کېښودل شول نږدې مازيګر دمحفل پای اعلان شو.

سباله عبدالباري سره دده په بلنه دبازارليدلولپاره بهر ووتلودبازارپه بېلابېلوبرخوکې يې خپل هغه درملتونونه هم راوښودل چې اوس يې ورته په تنخوا نوکران نيولي دي. وروسته ديو لوړ بلډنګ تر څنګ له موټر څه ښکته شولو دبلډنګ له پاسه پرلويه لوحه ليکل شوي وو:(( مرينا پرايوټ هسپتال )) مرينې عبدالباري دروغتون دبېلابېلو برخو له ليدلووروسته راته وويل چې چای به زما

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دفترکې وځښنو ، کله چې دفتر ته ننوتلو نو پرميزپرا يښې مرمرينې تختې ليکل شوي: ((د مرينا روغتون رئيس سرجن ډاکټرعبدالباري الکوزی د کابل د کوچيانو د روغتون متخصص MD له کابل MI له استراليا او PhD له هامبورګ څخه.))

مخامخ د سرطبيب دفتر و چې ورننوتلم نو د مېز له پاسه پرهمداسې تختې ليکل شوي وو ،((سرجن ليډي ډاکټرمرينا درانې ماهر امراض نسائي ولادي. MD کابل PhD لندن))

به خندامې ورته وويل چې آيا دلته حکومت مداخله نه کوي؟ ويې ويل چې نهه مياشتې مخکې پوليسان راغلي وو ، چې د خپل حق له اخېستلو وروسته بېرته لاړل اوس هغوی ته تکليف نه ورکوم او هرمياشت يې خپله حق وروړم او شکر دی مريضان مې هم ورځ په ورځ ډېرېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بدګومانه

همداچې د دربېیم پوړ په وروستۍ پوړۍ مې ګام کېښود، نوسمدستي مې سترګې پر همدې ولګېدې. ستېج ته نږدې ناسته وه، سرېې پرمېز ښکته کړی و، څه یې لیکل، تالار سپین پړق او قندیلونو روښانه وو، تا به ویل چې لمر همدلته کډه راوړې ده، دموسکا دګلابي مخ جلوې پر شیشه یي مېز د پروت سپین ململ رنګ الواني کړی او دمخ رنګیني او د هغې مخ ته پرمېز دګلانو د اینښې ګېډۍ رنګینۍ یو په بل کې تاوېدې. کله به چې هغه وخوځېده نو د رنګونو اتڼ به پیل شو دواړه رنګینۍ داسې په سیالۍ وې چې تا به ویل فطرت، صنعت ځپلي بشریت ته خپلې کرشمې ورښیي.

دموسکا مخ ته له اینښي مېز راتاوې پنځه واړه څوکۍ خالي وې. یوځل مې زړه وکړ چې راځه مړه دهېچا په کیسه کې هم نشې، څنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته يې کښنه؛ خو د موسکا دا هیله مې ستر ګو ته ودرېده، چې راته به یې ویل زړه مې ستا د مینې هدیره ده، د زړه په قبر کې مې یوائې ستا مینه ښخه ده؛ خو ګوره چې اوس په دنیا کې خلک یوائې تبصرو او په نورو پسې کیسو جوړولو ته اوزګاردي نو پام کوه.

زه لا د موسکا د مخ او د ګلانو د ګېډۍ له پرتلې اوزګار شوی نه وم، چې ویندوی په لوډ سپیکر کې غږ کړ: زموږ بل مېلمه ښاغلی احمدزي هم تشریف راووړ. له ده هیله کېږي چې د دریځ سر ته تشریف راوړي او د نورو مېلمنو ترڅنګ کښني. زما د نوم په اورېدلو سمدستي موسکا هم دروازې ته راوکتل، ودرېدله ، د سترې مه شي په دود یې سر وخوځاوه.

زه پر دریځ مېلمنو ته مخامخ کښناستم.

په زړه کې له موسکا ګیله من وم، چې ولې له ماسره یوځای کلیزې ته رانغلله، ولې یې دلته د راتللو پر وخت پر ما غږ ونکړ؟ ولې ولې.... چې په همدې وخت کې یو ښکلی ځوان راغی او نېغ د موسکا خواته ورغی، موسکا هم ددې لپاره چې ځوان یې ځانته نږدې کښنولی وي له ترڅنګ څوکۍ څخه خپل لاسي بیک پورته او هغه ته یې ځای خالي کړ. ددې ځوان لاسونه لامده وو موسکا خپل دستکول پرانېست دستمال یې ترې راوویست او هغه ته یې ورکړ. دواړو په ټیټ غږ یو بل ته څه وویل او بیا په خنداشول، نږدې وه چې ددې حالت په لیدلو له څوکۍ راپرېوځم. کله پرځان او کله پر خپلو سترګو بې

(c) ketabton.com: The Digital Library

باوره شم. حیران شوم چې دازه څه وینم.آیا زه ویښ یم او که ویده کله ځانته کاذب ډاډ ورکوم، چې هسې خیال او وهم اخېستی یې.حقیقت داسې نه دی؟

کله پر خپلو سترګو اولیدنو شکمن شم: دا زه څه وینم ایا داهماغه موسکا ده، چې زه یې خپله ټوله دنیا بولم اوخپلې ټولې هیلې مې ورپورې تړلې دي؟ آیا دا هماغه څوک ده چې د زرګونو مخلوقاتو له منځه زما یوازینی انتخاب دی ایا داهماغه موسکا ده چې همدا پرون یې په قسم راسره وعده وکړه چې، دبل بوی هم پرې حرام شه او نن هغه دی دومره له بل سره بوخته ده چې ما خو پرېږده آن دمراسمو په سلګونو ګډونوالو یې هم سترګې نه سوځي. ؟

د تصور او خیال ماڼۍ مې ړنګه او خپل ارمانونه مې د سمندر په څپو لاهو لیدل.

دا اند ښېښنه مې قوي شوه، چې موسکا همدا ځوان خوښ کړی او دې محفل ته دهغې لخوا ماته بلنه هم دهمدې لپاره ده چې داهرڅه پخپلو سترګو ووینم او په سراب پورې هیلې ونه تړم.

موسکا کله دسترګو په کونج کې ماته وګوري، کله ددې ځوان غوږ ته خوله ورنږدې کړي او کله بیا هغه ددې په غوږ کې خبر وکړي دا ورته غوږ ورنږدې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له ډېرې غوسې رپېږم، ټول ژوند راته ټوکې او مسخرې ښکاره شو ، دذهن په هينداره کې مې دموسکا خاطرې اوړي او رااوړي ، له ځان سره کرم ريږم چې رښتيا هم په انجونو کې وفا نشته ، دګل او صنوبر کيسه مې ذهن ته نېغه نېغه شوه. کله مې زړه راډک شي وايم راځه ښه په زوره وژاړه او د محفل ټولو خلکو ته کيسه وکړه.

کله کله دموسکا په مينه او فکر کې دې چټک بدلون ته حيران شم ،د دنيا هر حقيقت راته دروغ وبرېښېد ، پرهرڅه بې باوره شوم، په لږه شېبه کې مې دهرې فلسفې په اړه فکر اونظر بدل شو ، له دنيا او دنيا والو مې زړه تورشو ، په دې فکر کې وم چې له موسکا څخه دخپلې سوځېدلې مينې غچ څه ډول واخلم.

په همدې کې دکليزې دکېک دپرېکولو اعلان وشو ، څوتنه راغلل،کېک يې پرې کړ له هر مېزڅخه خلک راتلل، اوځانته يې کېک ووړ ،موسکا هم راغلله، قاب يې له کېک څخه ډک کړ،دوه قاشوغې اودوه پنجې يې واخېستې کېک ماته نږدې ايښی و ،کله چې رانږدې شوه، نو د سر په ښورولويې سلام وکړ ،زماله سترګو دکرکې اور بادېده، خپل مېز ته لاړه په دستمال يې قاشوغ پنجې پاکې کړې ، يوه قاشوغه اويوه پنجه يې دهغه زلمي مخ ته کېښوده اويوه يې ځانته، ورته موسکۍ شوه او قاب يې ورنږدې کړ. دلته زما بدن داسې وسوځېده لکه دسکروټو په فرش چې رانښکل کېږم. زه د اور په غرونو کې بند او د خپلې ناکامې مينې دجنازې پر تدفين

(c) ketabton.com: The Digital Library

او تکفین بوخت وم، چې څنګ ته ناست ملګري مې وخوځولم:((کوم فکر کې یې؟ ویاند ستېج ته وغوښتې))،ناڅاپه مې ټکان وخوړ، وارخطا راپاڅېدم.اجنډا هم رانه هېره وه، نه پوهېدم چې څه ووایم پرستېج مې له اوربدونکیو د ناروغۍ په پلمه ځان خلاص کړ بېرته په خپل ځای کېناستم، د سوچونو سمندر لاهو کړم:((ښه دد چې دا هلک خوښ وو، نوله ماسره یې ولې دبې کچې مینې تظاهر کاوه، له ماسره یې ولې قسم کاوه، چې نه به ته بل چاته په زړه کې ځای ورکوې او نه زه؟ ژوند به موهم یوځای وي او مرګ هم،دې خوبه ماته ویل چې خېمه وي که کوډۍ ستالپاره پرې له ماښیو تېره یم.

موسکا خوبه راته ویل چې ددې دپلار د سوداګرۍ ډېرشریکان او ددې ترپلارلا شتمن یې غواړي، خو ددې مینه له ماسره ده، نو نن ولې له ماځخه غوړ هلک ته زما او دټولو ګډونوالو په مخ کې خاندي او په نازورسره خبرې کوي؟، کله به سوچ راغی چې که موسکا رښتیا هم مطلب اشنا اویادپیسو وږې وای، نوپه دا دومره وخت کې خوبه یې له ماپیسې یابل څه غوښتي وای ! !بیا راته ځان خوشباوره ښکاره شي: نه نه یاره رښتیاچې ښکلې نجونې ټولې دحمام لُنګ دي،نن له یوه او سبا له بل سره وي اورښتیاهم دوی مینو پسې نه ،بلکې په سرو او سپینو پسې ځي،زړه مې تنګ اوچاود ته نږدې شوی و، خوځله مې زړه وکړ چې راځه محفل پرېږده اوچېرته ګوښه په زوره زوره وژاړه، کله به فکر راغی چې راشه له همدې دربیم پوړ څخه ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library

وغورځوه، اوټولې دنياته دنجونو مکاري، بې وفايي اودنيمې لارې ملتيا وروښيه.

دکليــزې دمراســمولومړۍ برخــه پــای تــه ورســېده، داژانس پربرياليوکارکوونکيودډاليو او ستاينليکونو دوېش کارپيل شو، وياند بـه نـوم اخېستاو د يو چاپـه لاس بـه يې ستاينليک ورکړ، پـه همدې کې يې پـه يوفيګور اوخاص انـداز دګډونوالو پـام ځانتـه راواړاوه،((پوهېږئ !پـوهېږئ !چې اوس دريـځ تــه څــوک راغـواړو ؟؟،اوس هغـه ځوان راغـواړو چې زمـوږ د اژانـس روح بلـل کېږي، هغـه چې اژانس تـه يې ګڼ ملي اونړيوال وياړونه اومډالونه راوړي،هغـه چې تـل يې زمـوږ سرهسک اوسترګې لوړې ساتلي دي ،نوستاسودلاسونوپه پړقاکې راغواړم شکيب جان ! ))

چيغې اوچکچکې پيل شوې سترګې پـه شکيب پسې اوښتې را اوښتې، له همدې سره دموسکا ترخنګ ناست هلک ستېج ته راروان شو، زما د غوسې سمندرلاهم طوفاني او دوينې هرڅاڅکی وخوټېد، هلتـه موسکا لـه ډېرې خوشحالۍ پـه خپلـه څوکۍ ودرېده،لـه ډېرو چکچکـو يې ټيکری پـه اوږو ولوېد، پـه سترګو کې يې د خوښيو اوښکې ډنډشوې، ماويل هسې خوېې زما پرځای ورسره مينه نه ده پيل کړې،په ده کې خوډېرکار و، پـه همدې کې وياند د چکچکو او چيغود ودرېدو هيله وکړه، چکچکې غلې شوې وياند وويل:ښه اوس تاسوپوهېږئ چې ګران شکيب جان ته به ډالۍ اوستاينليک دچا پـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاس ورکوو ؟ ستاسو په خیال کې به کوم وزیر یا والي ګرځي ،نه نه شکیب جان ته والي یاوزیر نه، بلکې هغه څوک ډالۍ ورکوي،چې دی یې روزلی ،مینه یې ورکړې، له ده سره یې بې خوبي تېره کړې او دده داستعداد په روزلو کې لوی لاس لري،نو ستاسو د لاسونو په شانداره پړقااو درونداستقبال کې راغواړو ،د شکیب جان خور (( آغلې موسکا ))

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بې غمي

له ټورنټو څخه اوتاوا ته د تلونکي ریل ګاډي د اتمې ډبې دریم تخت زما و، زما تر تخت لاندې یوه ښکلې نجلۍ په یوه لنډ نېکر او بنین کې او مخامخ یې یو هلک پروت و، ماته مخامخ په څلورم تخت کې ناست هلک خپل لپټاپ پرانیستی، کله چټ کوي کله کمپوز، بلا سکس سایټونه یې وکتل، زما تر تخت لاندې نجلۍ د خپل مخامخ تخت هلک غېږې ته ورغلله، غېږ په غېږ شول شونډې یې د هغه پر شونډو کېښودې دواړو د یوبل شونډې زبېښلې، ژبې یې د یوبل په خوله کې ورکړې، انجلۍ لومړی په ناسته د خپلو تیونو څوکې د هلک په خوله کې ورکړې او بیا ورته څملاستله، زه او ماته مخامخ هلک دواړه ورته ګورو خو نه مو هلک په کیسه کې دی او نه انجلۍ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماته مخامخ هلک له کانتین څخه دوه ډکې پیالې راړې یوه یې د هلک په غېږ کې پرتې همدې نجلۍ ته ورکړه او یوه یې خپله وښښله ،سفر اوږد و ومې غوښتل چې د سفر له ملګرو سره د خبرو دروازه پرانیزم ،لاندې هلک او انجلۍ په خپلو کې بوخت و نو له مخامخ ناست هلک څخه مې د هغه د نوم ،ځای ،قوم او بوختیا په هکله وپوښتل، هغه راته وویل چې نوم یې راب او د مور نوم یې لیسا ده په اوتاوا کې اوسېږي، انجنیري یې لوستې ،په قوم ایریش او نیکونه یې له ایرلینډ څخه کاناډا ته تللي دي ، ما ترې وپوښتل چې څووم نیکه مو کاناډا ته راغلی او ولې یې ایرلینډ پرېښود ؟هغه موسکی شو ویل یې دومره معلومات نلرم له همدې سره یې د هلک په غېږ کې پر پرتې نجلۍ ورغږ کړ: خورې بابا کله او ولې له ایرلینډ څخه دلته راغلی و؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بې وطنه!

د لاهور د یاړي (مزدوري) خو ټوله سخته وه، خو چې کله به یې ټاټکی راپرسر کړ، نو لکه په سره تناره کې مې چې دروي. ما به چې کله په کوم ختم وخیرات ، جنازې، جُمعې داختر لمانځه اویا کلي ته د تللو په وخت کې خولۍ پرسر کړه. نو دومره به راباندې درنه وه لکه تورغر، او اوس به یې چې لس ساعته پرلپسې له مسالې ډک شل کیلویي ټاټکی راپر سر کاوه نو کله مې زغملی شو.

په کابل کې تنظیمي جګړو دومره وارخطا کړو چې له ډک کوراو پریمانه جایداد څخه مو یواځې یو سراودوه غوړه ووبستل ،پردی وطن وو له مزدورۍ پرته مو بله لار نه درلوده ،په شپیتو کلدارو مزدورۍ مو تش کتغ او اوړه هم نشوای برابرولی، شل روپۍ خو یې دکار ځای ته په کرایه هم رانه لګېدلې. دغرمې لپاره وچه ډوډۍ مو له ځان سره له کوره وړله، خو دکتغ لپاره به مو پنځه پنځه کلداري اچولې. ددې لپاره چې لږې ډېرې پیسې وګټو، نو دکار خاوند ته به مو پخپله د اورټایم (اضافه کارۍ )پېشنهاد کاوه ،کله به چې ګرمۍ او یا هم درانه کار ډېر بې حوصلې کړم نو چاچاسادي به مې سترګوته ودراوه ،او دهغه په لیدلو به مې زړه تسل کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه د حوصلې او زغم خاوند سپين ږيرى و ، هر كار ته به يې چې وركړ (نه )به يې پكې نه ويلې ، له هغه سره مې همدلته د ديارۍ په ځاى كې وليدل ،له رنګه ډېر ،ثقه ،هوښيار ،پوه او جهان ديده ښكاريده .په كار كې چې له يو بل سره لږ بلد شو نو ځوځله مې ترې وغوښتل چې ځان پوره راو پيژني خو همدومره به يې راته ويل چې له تنظيمي جګړو او په كابل كې له نا امنۍ څخه يو را مهاجر شوى افغان يم.

هغه به پرځان ډېر زحمت تېراوه خو دكار د خاوند او ياهم دګلكار خبروته به يې ځان نه وركاوه ،دپنجاب ددوبي لمر دواړه دومره تك تور اړولي وو چې په سخته به چا پېژندلي واى.

يوه ورځ مې دمزدورانو دحاضرۍ په كتاب كې د سعيدي كابلي نوم وليد .د حاضرۍ له مسوول څخه مې په ماته ګوډه اردو وپوښتل چې دا سعيد كابلي يې لاځوك دى ،چې نوم يې په حاضرۍ كې شته خو خپله يې نه وينو ،هغه سمدستي چاچا سادي ته ګوته ونيوه ،پوه شوم چې دوى سعيدي سم تلفظ كولى نشي ،نو ځكه ورته چاچاسادي((سعيدي كاكا ) ) وايي.

زموږدكارخاوند پروفيسورصادق احمد پراچه د لاهور پوهنتون د سيمه ييزو مطالعاتو د مركزدمنځنۍ آسيادبرخې مسؤول وو ، يوه ورځ چې له دفتره دكار سرته راغى نو د په لاس كې نيولي اخبار غونډه سرخي يې دافغانستان په اړه وه ، چاچا سادي ترې په ډېرې عاجزۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

وغوښتل چې که یوه شېبه اخبار ورکړي ، پراچه ترې په حیرانتیا وپوښتل چې ایا اخبار پړاوولی( لوستلی )شي؟ هغه ورته دهو سر وخوځاوه. نور به نو هغه هر وخت له موږ سره د افغانستان او منځنۍ اسیا پر تاریخ ،کلتور ،جغرافیې او د سیمې پرګډو ارزښتونو ډېر بحث کاوه،او د چاچا سادي له معلوماتو به یې ډېر خوند اخیسته، هغه به ویل چې د اسیا پېژندنې په اړه لسګونه کتابونه لري ،خو دی پر هغه تاریخ ډېر باور لري چې یو افغان لیکلی او دی اوس هم ترې ګټه اخلي.

هغه به له دندې له راستنېدو سمدستي وروسته ، د چاچا سادي خواته راغی او علمي بحث به یې ورسره پیل کړ ، زه خویې چنداان په ژبه نه پوهېدم خو چاچا سادي روانه اردو ویلې. پروفیسور هم په پښتو پوهېده. د واړه پر بحث خوښ وو موږ به دا شېبې د دمې لپاره غنیمت بللې.

یوه ورځ پروفیسور پراچه د خپلو خبرو په ترخ کې وویل دا چې په قرآن کې راغلي چې سلطان سکندر ذی القرنین د جوج ماجوج د بندولو لپاره کوم او سپنیز د بوال جوړ کړ نو دا جوج ماجوج په قفقاز کې اوسېدو نکي مغل قوم دی او سلطان سکندر په څلورمه قبل المیلاد پېړۍ کې قفقاز ته د افغانستان له لارې لاړ ه ،.ماته خو په دې اړه معلومات نه وو خو چاچا سادي ورته وویل چې دا معلومات ناسم دي ،ځکه چې سلطان سکندر هېڅکله افغانستان ته ندی راغلی ،او په څلورمه قبل المیلاد پېړۍ کې پر افغانستان مقدوني سکندر یرغل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړې وو ،ده پروفیسورپراچه ته وویل چې ښایي دی له التباس سره مخ او د سکندر مقدوني او سکندرذی القرنین نومونه ترې یوله بل سره ګډ شوي وي ، دیو افغان مزدورلخوا دده معلوماتو له ناسم بللو سره دپراچه رنګ تک سور واوښت په تنده لهجه یې وویل : زه د اسنادو له مخې غږېږم او ته له ګپه ډې ،زه دخپلې خبرې لپاره ثبوت لرم ، له همدې سره دخپل کور کتابتون ته ننووت ، څو شیبې وروسته پداسې حال کې چې یوضخیم کتاب یې په لاس کې وو ځنګېدلی راغی خو لا رارسېدلی نه و چې له چاچاسادي څه یې دبخښنې غوښتل پیل کړل او ورته یې ویل چې داکتاب هم ستانظر تائیدوي.

چاچاسادي ،چې دپروفیسور په لاس کې کتاب ولید ټکان یې وخوړ ، د لمر وهلي مخ سپین او سره یې سره ورغلل ، بې واکه یې کتاب ته لاس وغځاوه خو پروفیسور یې په ډېرې بې باکۍ لاس ټیله کړ،: ته پوهېږې چې دا څومره مستند او مهم کتاب دی، زه یې په څومره قدر په شیشه یي الماری کې ساتم، او ته یې په خیرنو او په سیمنټو سپیرولاسونو اخلې ، ته خو دې کم تر کمه له لاس څخه د اسیمنټ پاک کړه او بیا کتاب واخله ! !، چاچا سادي په مایوسۍ د اوبو بیلرته روان شو ،خو ما خپل لاسونه په خپله لمن ژر پاک کړل ،له پروفیسورپراچه نه مې کتاب واخست اوهمدا چې دکتاب پرپوخ مې دلیکوال عکس ولید او ((لیکوال:پوهاند سعدالدین سعیدي )) مې ولوستل نو ولړزېدم ، سترګې مې له واکه ووتې کله به دکتاب

(c) ketabton.com: The Digital Library

دليکوال پر عکس اوکله به پر چاچا سادي لګېدلې. له خولې مې بې واره ووتل داخو چاچاسادي دی چاچاسادي چاچا چاچا چاچاسا...

د پروفيسور رنګ هم زېړ شو. ما زيګر چې منشي چاچا سادي ته شپېته کلداري مزدوري ورکړه نو دا يې هم ورته وويل چې تاسې سر له نن څخه چهټي ( رخصت )ياست ځکه چې موږ څو ورځې کاربندوو خو نورو مزدورانو ته يې ويل چې تاسو خپل کار ته راځئ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بیوسه

دحقوقي مشورو دفتر ته له رسېدو سره سم ، د دفترمشر پر مخامخ څوکۍ ناست شخص ته ګوته ونیوه:

ـ دې افغان ستاسو په کارته کې کور اخېستی او س یې د اداري مراحلو لپاره یو وکیل ته اړتیا ده.

- نو زه مو څه ته را وغوښتم ؟

ـ ته یې د وکالت کارونه پرمخ بوځه.

جنرال رؤف مې لومړی ځل له یو پنځه دوسیو سره همدلته ولید ترې و مې پوښتل:

ـ کاکا کور دې چېرې او څه وخت اخېستی؟

ــ درې میاشتې وړاندې، د اتسبورګ په کارته کې، دریم بلاک، څوارلسم پوړ، اوم دهلیز، ۱۹۲ اپارتمان.

ـ اوه دا څه وایې ! ! عجیبه ده زموږ تر کور لاندې؟ ! .موږ خو هم دهمدې دهلیز په شپاړلسم پوړ کې او سو بیخي ستاسو پرسر ،نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیامو څنګه په دادرې میاشتو کې نه سره لیدلي اونه درنه خبرشوی یم.

ـ یاره وکیل صاحب ته هم عجیبې کوې، داخو افغانستان نه دی، چې خلک هره ورځ یوبل سره ووینې او بندارونه وکړي دا المان دی المان !

ـ هو والله ماهم په بریمین کې پنځه کاله تېرکړل، خو تراخره مې خپل مخامخ ګاونډی ونه پېژانده.

ـ مېرمن او بچیان دې درسره همدلته دي؟.

ـ له یوساړه اسویلي وروسته ! مېرمن مې وفات شوې، دوه زامن مې له خپلو اولادونو سره په امریکا، یوه لور مې په لندن او یوه لور او یو زوی مې همدلته په فریبرګ کې راسره دي.

ـ په وطن کې دې څه کارکاوه ؟

ـ ګوره ځوانه داسې نه کېږي چې ټولې خبرې دلته وکړو یوماښام یا ته کافي راکړه اویابه یې زه درکړم چې سره کېنو اوسمه کلیوالي دزړه خواله وکړو.

ـ سمه ده، خو کله؟

ـ اوس خو دکورپه کارپسې ګرځم ته به هم راسره سرګردانه یې وخت به وټاکو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخت مو تنظیم کړ ،یوه اونۍ وروسته مابنام دواړو وخت موندلی شو ، له ژمني سره سم یې کورته ورغللم ،په پخلنځي کې د مېوې او پیزا په برابرولو بوخت شو ورته مې وویل: ـ کاکا ته خو سپین ږیری یې زوی اولور ته دې وو ایه چې په پخلنځي کې مرسته وکړي راځه چې زه او ته کیسې وکړو.

ـ هغه یو هم په کور کې نشته که نه له تا سره خو یې روغبړ کاوه ،دواړه په پښتو پوهېږي،دا دی کار مې خلاص شو درغللم.

له پتنوس سره راغی ماته مخامخ د میز برسرته کېناست ورته مې وویل

ـ نن خو رخصت هم دی بچیان دې چېرې تللي دي؟

هغه له تندي څخه خوله پاکه کړه

ـ یاره د نن زماني بچیان په افغانستان کې د مشرانو خبره نه مني داخو المان دی، زوی مې دا درې میاشتې نه دی لیدلی ـ له همدې سره یې په سترګو کې اوښکې ډنډ شوې ـ

په الماری کې ایښي د عکسونو چوکاټ ته یې ګوته ونیوه :دا یې تېرکال زما د زوی په سالګره وېستي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په عکسونو کې یو هلک ، یوه ځوانه ښځه او یو پوښ سړی ښکاربېدل ترې لاندې لیکل شوي و:ماشا اوجونزټام د ساشاه په سالګره کې.

ما په حیرانتیا وپوښتل:

ـ ساشا ، ماشا اوجونزټام؟

ـ حیرانېږه مه نومونه یې سمسور او ماګل دي ؛ خوځوانان دي دلته یې پر ځان نوي نومونه ایښي.

- او داجونزټام یې ځوک دی
- دازما دلور دوهم خاوند و
- -واو که دی
- -نه ،وخو اوس یې ترې طلاق اخستی غوښتل چې له یو پولینډی سره واده وکړي خوماونه منله، اوس مروره ده او دادرې کاله کېږي چې له یو الماني سره اوسېږي

ـ المان ته کله راغللې ؟

ـ ما دلته په نظامي برخه کې دکتورا اخېستې، کله چې زموږ انقلاب بریالی شو نوزه تورنجنرال وم دکنګرې د پرېکړې له مې همدلته سفیر وټاکل شوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ ښه نو بیا ؟

ـ بیا نو د رژیم له سقوط وروسته همدلته پاتې شوم دوکانداري مې پیل کړه کارمې ورو- ورو ښه شو اوس له چین او نورو هیوادو توکي راوړم او عمده یې پلورم.

ژړغوني شو:

ـ هسې د ګونګټو خواري ده، مور بچیانو ته خواري کوو او دوی را نه تښتي، که نه یو اځې زما د برلین د کور کرایه د یو لوی فامیل بس کیږي.

شپږ کاله مو د ګاونډیتوب تېر شول خو جنرال صاحب مې بیا په دې شپږو کالو کې شپږ ځله هم ونه لید ، سحر به وخته ته او ماښام ناوخته به راته، زما بوختیا هم له هغه کمه نه وه، په هغه ورځ چې کله په دهلیز کې راسره مخ شو؛ نو راته یې وویل چې زوی یې له یوې المانۍ سره واده وکړ او دی یې هم واده ته غوښتی و.

ماو پوښتل:

ـ جنرال صاحب ! ساشا کله په کور وي چې مبارکي ورکړم.

ـ هغه خو له واده وروسته له خپلې مېرمنې سره زموږ هغه بل کور ته لاړ.

ـ دا ولې ستاسو دا اپارتمان خو هم درې اطاقه دی ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ هو والله، خیرهغه کور هم له دې ځایه ډېر لرې نه دی ځوانان دی یو ائحې ژوند یې خوښ دی

دا دی اوه کاله د سترګو په رپ کې تېرشول نور نو په جنرال صاحب کې د دوکانداری شیمه نه وه، په کورکې یو ائیتوب هم زړه تنګی کړی و. کری ورځ به له نورو زړو او سپین سرو سره د دهلیز مخ ته د لرګي په څوکۍ ناست و.

ویل یې چې د هغو نورو په څېر د یو ائیتوب له غمه د خلاصون لپاره سپی او پیشو هم ساتلی نشي ځکه چې خدمت یې نشي کولی.

تېره ورځ زه ستړی هم وم؛ خو هغه په زوره له ځان سره کېنولم او د ژوند تېرې خاطرې یې راسره شریکې کړلې، کله یې چې ویل چې په وطن کې به په هر مړي او ژوندي کې ناست و او آن کله کله یې د نورو مړي او ژوندي هم خوندي کول نو ساه یې لنډه لنډه شوه او سلګیو ونیوه:

ـ یاره وکیل صاحب !د دې ځای ژوند، دود او ځان ځاني مې ډېر ځوروي، په خپل راتګ ډېرپښېمانه یم په دې هڅه یم چې بېرته خپل وطن ته ستون شم.

ـ جنرال صاحب الله ج مهربانه دی، دټولو همدا هیله ده.

ـــ دنورو به هیله وي خو زه جدي یم زه دلته ورو ـ ورو خپل ځان راټولوم او له خیره وطن ته ځم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ــ دا خو ښه کار دی خوزه څه خدمت وکړم؟

ـ ګوره مرګ چاته په ډول او سورني نه ورځي که دلته رابانديې څه وشول؛ نو بچيانو ته مې تمه نشته، ته مې وطندار او ګاونډی يې مړی به مې ښه سمبالوې.

ـ جنرال صاحب ته غم مه کوه د مسلمانانو په هديره کې د قبر لپاره د ځمکې، ملا، ښاروالۍ، د تدفين د شرکت، يخچال امبولانس هر څه غم به درته وکړم.

خو د هغه تندی غونج شو:

ـ ياره زما په ژوندوني له دې ځايه زړه تور دی او ته مې مړی هم مسافر کوې، نه نه هرومرو به مې وطن ته ليږې چې په پلرنۍ هديره کې په درناوي ښخ شم، لويه جنازه مې وي، د کلي په جامع مسجد کې مې د کورنۍ او قوم لخوا فاتحه واخيستل شي، ختمونه دريمه، جمعه ګي، څلويښتي او تلين مې وي او په مسجد، هديره کور او کلي کې راته دعاګانې وشي.

نيمه شپه وه چې د کور ټيليفون مو وشرنګېد، له هلو سره پوه شوم چې جنرال رؤف دی، راته يې وويل چې حالت يې ښه نه دی او که يو ځل ورشم، له ورتللو سره سم مې امبولانس ته زنګ وواهه، د امبولانس ډاکټر يې اکسيجن خولې ته وتاړه او روغتون ته مو روان کړ، هغه د کور د قلفولو لپاره چابيانې ماته راکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورځ راغله خو د جنرال صاحب صحت ساعت په ساعت خرابېده، څو ځله مې د جنرال صاحب زوی ته زنګ وواهه؛ ځواب یې نه راکاوه، کله یې چې دلور ټیلیفون ځواب راکړ نږدې وچې له خولې مې ورته سپک الفاظ ووځی:

ـ هلو !څوک یاست؟

ـ وکیل نجیب یم تاسې ماشا یاست؟

ـ هو خو تاسو مې ونه پېژندلئ

ـ زه ستا د پلار ګاونډی یم.

ـ امر کوه.

ـ پلار دې ډېر ناروغه دی اوس مو روغتون ته راوستی حالت یې نازک دی.

ـ سمه ده خو زه او ملګری مې اوس له تاسو درې زره کیلومتره لرې یو، دلته یو ځنګل ته ارام ته راغلي یو.

ـ خو موږ هم وخت نلرو چاره څه ده؟

ـ ډاډه اوسه زه ساشا خبروم.

نور نو زه هم ورسره پاتې نشوم، ځکه چې که له خپل وخت څخه پنځه دقیقې هم کمپنۍ ته ناوخته تللی وای؛ نو کمپیوټر مې کارت نه مانه او غیرحاضرېدم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ثو ځله مې د جنرال صاحب نمبر ته زنګ وواهه؛ خو ټيليفون يې بند و ، لس ورځې وروسته چې ساشا د پلارد کور د چاپيانو د ترلاسه کولو لپاره زموږ کور ته راوخوت، ما ترې د جنرال صاحب د صحت پوښتنه وکړه؛ خو هغه په داسې حال کې چې يوه پښه يې پر بلې واړوله او سګرېټ ته يې فلتر ونيوه، وويل:

ـ ولې ته خبر نه يې؟ ! هغه خو نهه ورځې وړاندې په حق رسېدلی دی.

زه خفه شوم او په ګيله مې ورته وويل:

ـ- بې انصافه زه نو چا خبر کړم زما خو ګاونډی و ، کم تر کمه هغه جنازې ته خو به دې خبر کړی وم.

هغه له خولې او سپېږمو څخه د سګرټ يو قوده دود زما پر مخ راخوشې کړ:

ـ خير خفه کېږه مه موږ هم جنازه کې نه و .

ـ ولې ؟

ماته مې هم خور شپږ ورځې مخکې د پلار د ناروغۍ خبر راکړ.

ـ نوولې ژر- ژر ورنغللې

ـ خو تر څو مې چې رخصت پاڼې جوړېدلې او روغتون ته ورتللو ته برابرېدم ، دوه ورځې وخت يې ونيوه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ــ نو په یخچال کې خو مړی دومره ژر نه خرابېږي.ولې موجنازه ونکړه ؟

ـــ ساشا چې کله پرمېز د سگرېټو د ایرې لپاره ایښي قاب ته ځان رااوړود کړ نو له خولې یې د شرابو دبوی غوړاسکې راووتلې خبرې یې ځوځله بې ترتیبه شوې ــ خوویې ویل :

ـ ډاکټرانو راته وویل چې د پلار مړی یې څلور ورځې په یخچال کې ایښي و خو چې کورنۍ یې پیدانشوه؛ نو تېره ورځ یې سره صلیب د یخچال او روغتون لگښتونه ورکړل او دا چې د قبر ځای یې نه درلود ؛ نو د دې ځای له قانون سره سم یې وسوځاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تروریست

غمی نن بیا ځوړند سر د قوماندان صیب مخ ته ودرېد ، په بنده بنده ژبه یې ترې د خپل زوی د مړي ژوندي پوښتنه وکړه: خو هغه یو ځل بیا د (( گم شو تروریست، تمام جانت مکروب است )) په ویلو داسې تېل واهه چې ان پټکی یې ولوېد .

په ډېرو منډو رامنډو یې د ربړېنو ځپلیو پستکي وشلېدل، نه یې زندانونوکې د قادر درک وموند او نه هم سره صلیب او نه هم د بشردحقونو ادارو دهغه کوم درک ورکړ،ان چې د ولسمشر زړه هم پرې دردېدلی وو او د زړه له اخلاصه یې ورسره ژمنه کړې وه چې که د مقاومت له جبهو پرته په افغانستان کې له هر چا سره بندي وي ورته به یې راخوشې کړي.

خوب ترې کډه کړې وه، غمي اکاو زرینې ترور به د ژمي اوږدې شپې د شیطان ځراغ لوګنې رڼا ته رڼولې، په ویښه به یې د قادر د موندلو خوبونه لیدل،.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نور يې نو له ژونده نهيلى وو ، ستره هيله يې دا وه چې كاشكې يې ځوک پرې هډوكي وپلوري، چې كولمې يې ورتولې اوكم تر كمه د دريو ځوانو نګور ګانو برخليک معلوم كړي.

غمى اكا دنبستې ځپې واخيست ، مېرمن يې اړه شوه چې ددوى ديوه خپل انجنير فريدون په كوركې خدمت وكړي او دمياشتني معاش تر څنګ يې دخوړو پاتې شوني هم كورته يوسي.

يوه ورځ چې انجنير فريدون ، انټرنېټ پرانيست نو پرهغه خبر يې ستركې ولګېدې چې د متحده ايالاتو د دفاع وزارت په خپل رسمي سايټ كې خپور كړى وو ، او همدا چې د القاعده د مشرانو په لست كې يې د ۲۲ كلن ملا عبدالقادر د غمي خان دزوى نوم تر ستركو شو ، نو ورپېږدېد ، لاسونو يې كار پرېښود ، ځمكه يې له پښو وتښتېده . بې اختياره يې ذهن شپږويشت كاله شاته لاړ ، د انقلاب لومړيو شپو او ورځو ته هغو ورځو ته چې قادر لا زېږېدلى هم نه وو ، هغه وخت ته چې غمي اكا يوائې يوزوى اوډېرې لوښې درلودې او غمي او مېرمنې يې د زوى دجوړه كېدلو لپاره په زيارتونو جنډې او خپله لور په نذر كې منلې وه ، بالاخره الله ج يې سوال ومانه او د قادر له زېږېدو سره سم يې تره له ډېرې خوښى خپله دوه مياشتينى لور فاطمه د هغه په نوم كړه او بيا قادر نازولى لويېده خو د كوڅې او بازار له هلكانو سره.، د كور سر او سرسر دهغه وو ، اوهغه وخت چې پلار به يې د پېښور د پشكال په ګرميو كې په شل كلدارو مزدوري كوله خو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

قادر جیب به یې تش نه پرېښود ، د قادر د نازولتوب او ګرانښت څپه خو هغه وخت لا ډېره شوه چې مشر ورور یې له روسانو سره په مخامخ نښته کې په شهادت ورسېد ،

انجنیر فریدون ته هغه وختونه هم ورپه زړه شول چې قادر لا نوی زلمی وو چې غمي اکا خپله کونډه ننګور ډېره وهڅوله، چې له قادر سره نکاح ته زړه ښه کړي خو هغې ځواب ورکړ چې سر سپینول ورته له قادر څخه سل ځله غوره دي. او ورور ته یې هم د هغه او فاطمې د واده خبره وریاده کړه، خو هغه لوړه وکړه چې دې چرسي، بنګي ، بېکاره، د سپین ږیري پلار لاس ته ناست ته به هېڅکله هم خپله لور ورنکړي. ده هم په قرض او پور کوچیانی ولور برابر او ځوی ته بله ناوې راوسته.

د قادر د واده به لا یونیم کال پوره نه وو چې د غمي اکا تره او تربور دخپل دود او دستور له مخې هم دغمي وروراړ بست چې فاطمه قادر ته ور واده کړي او هم یې د هغه کونډه ننګور مجبوره کړه چې قادر ته کښېني، نو په یو د بېګ وریجو یې قادر ته په یوه شپه دوه ناوې راوستې.

که څه هم اوس قادر د درې ښځو خاوند شو ،خو په خوی او عادت کې یې هېڅ بدلون رانغی، لا هم د کور فضا خړه پړه شوه، د کور لګښت ډېر شو، نور یې نو د مور پا سره هم ختمه شوه چې د هغه د چرسو لپاره یې ورکړي، یوه ورځ چې په پیسو له مور سره ونښت، نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

مېرمنې يې ورته د خرڅ لپاره خپله د سرو ګوتـه ورکړه، خو دا پيسـې هم ختمې شوې، بله ورځ بيا له مور سره د پنځو کلدارو په سر ونښت .مور ته د قادر ښکنځلو د کور فضا بې خونده کړه، درې واړو مېرمنو يـې ورتـه ژړلـې، قـادر پـه وروسـتي ځـل مورتـه لـه غوسـې سـور مـخ وروا ړاوه: (( د بې غيرته لورې، ته مې نور په دې کـور کـې وګـوره. )) ، او هماغـه وو چـې قـادر ورک شـو ، درې ورځـې وروسـته د پېښـور پـه ورځپاڼو کې د قادر نوم هم د هغو کسانو په ډله کې خپور شو چې لـه يوه قوماندان سره د طالبانو پـر ضد جګړې تـه تللي وو او طالبـانو لـه پولې څخه د اوښتلو په دوهمه ورځ ټول نيـولي وو چـې بيـا پـوره څلـور کاله د کندهار په جېل کې بنديان و.

د قـادرکورنۍ لـه ډېرو سـتونزو سـره مـخ شـوه. ،پـلار بـه يـې پـه سپينه ږيره ګټل او د قادر د خلاصون لپاره به يـې لګـولې. خوينـدو بـه يې ورپـسې ختمونه کول.

. اخر هم قادر لـه ډېرو واسطو او منـډو رامنـډو وروسـته لـه زنـدان څخه خوشې شـو ، خـو د کنـدهار جېـل د قـادر لپـاره يـوه مدرسـه وه ، د څلور کاله بند په اوږدو کې د قادر ژوند ، فکر، اخلاق هرڅه بدل شـوي وو دقرآن کـريم تـلاوت ، ليکـل ، لوسـتل ، کسـبونه يـې يـاد کـړي وو ، اوس نو له زندان وروسته قادر هغه پخوانی قـادر نـه و، او يـو لمـونځ يې هم بې جمعې نه کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مېرمنې يې دده په بدلون په جامو کې نه ځاييدې او آن د هغه څلور کلن بېلتون يې هېر کړ.

خو درې مياشتې لا پوره نه وې چې د سپتمبر د يوولسمې پېښې را منځ ته شوې، امريکا په افغانستان يرغل وکړ، پاکستان مېشتو علماوو په افغانستان کې د امريکا پر ضد دجهاد فتوا ورکړه، د شهادت د فضيلتونو، دحورو غلمانو، او دجهاد د فريضې په اورېدلو د قادر احساسات هم راوپارېدل، له ډېرو نورو ځوانانو سره د جهاد لپاره لومړی کابل او له هغه ځايه په ((تشکيل)) کې مزار ته ولېږل شو، او بيا څلور کاله تری تم و.

يوه ورځ انجنير فريدون تلويزيون ته ناست وو ،له زريني ترور څخه يې چای وغوښت ،چې په همدې کې ويانند دبېړني خبر غږ وکړ ،ويانند دتروروستانو دهغو مشرانو نومونه اخستل چې دامريکا لخوا اعدام شوي وو دانجنير فريدون څک کېدلو او ناڅاپي ټکان تلويزيون ته د زرينې ترورپام هم راواړوه همدا چې په تلويزيون کې يې دخپل زوی عکس او دهغه داعدام خبر واورېد له خولې يې چيغه ووته د چايو پتنوس يې له لاسه ولوېده او پر وښکي يې وينه راماته شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تمرين

ما استاد محمود ريباری ته لېږه خو هغه راته تقرير پيل کړ: ګوره قاري صاحب ته دقرآن حافظ او ديني عالم يې او خدای ج ښه ديندار او درنه ښځه درکړې له دې ښاريانو چې چالاکه او دډېرو يې سر له يوه او پښې له بل سره وي تېرشه.

دهغه ، دپند او نصيحت دې خبرو هېڅ خوند رانکړ ،ورغبرګه مې کړه استاده ! داخبرې اوس پرېږده ته دناهيد دوی له کورنۍ سره بلد سړی يې ورشه هغه راته وغواړه ،خوهغه راته وويل چې دا انجونې له تاسره نه جوړېږي بيا به پښېمانه يې: کله چې زه هم ثلوېښت کاله پخوا له کلي څخه کابل ښار ته راغللم نو هره ښاريړاته ښاپېرۍ ښکارېده خو اوس راته ثابته شوه چې د اطرافي نجونو مينه سوچه اوساده ګي اوطبعي ښکلايې له الماسو هم ګران بيه ده .

خو دناهيد کرشمواو جادوګرې موسکا د غوتۍ دبنګړيو شورله ما هېرکړ ،دهغې هر حرکت راته نغمه ، هره شېبه وږمه او هره خبره ترنم او زمزمه وه.

دايـوائې ناهيد وه چې آن خپل دستر ګوکاتي يې هم نخولی شول .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دناهید مینه مې نوره له وینې سره ګډه او دبدن په هر رګ کې چلېده ،کله به چې ددفتر نور ملګري زما او دهغې له ډېرو خبرو په تنګ شول نو چټ به موپیل کړ.

مابه خپل میاشتینی درې ورځې رخصت په کلي کې له خپلې کورنۍ سره تېراوه خو ناهید راته وویل چې نور زما ددرې ورځني بېلتون زغم نلري، اوباید ښځې ته مې وو ایم چې اوس دفتر ماته هره میاشت رخصت نه راکوي اودا ورځې له هغې سره تېرې کړم ،زما لپاره له دې ځخه بل مهم زیری چېرې و؟. دمیاشتې په پای کې مې له دفترځخه معاش او رخصت دواړه یوځای واخستل .

سباچې کله قرغې ته تللو نو ناهید دومره ارایش کړی و چې تابه ویل دپاریس په کومې ارایشګا کې یې دقفقاز کومه ښاپېرۍ ناوې کړې ده .له تنګ پطلون ځخه یې دبدن هرغړی او له سپین نري بنین ځخه یې د هر تي ځوکه راوتې وه،هلته نورې انجونې او سړي هم وو خو ټولو به مورډ ته کتل.ناهید رانه وپوښتل ،قاري جانه پوهېږې چې داټول خلک ولې ما او تاته ډېرډېر ګوري ماورته وویل هو ولې نه ،ستاپه ځېرښکلې ته به ولې ځوک نه ګوري،خو هغې وویل نه ، دا خلک ستاساده جامو او اوږدې ږیرې ته حیران دي، که غواړې چې نورهرځوک درپورې ونه خاندي نو ځان منظم او مهذب کړه .داکابل ښار دی ، ته په کلي کې قولبې پسې روان نه یې، .

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغې دا هم وویل چې له ترورستانو سره دې باید توپیر وشي ، که ته له دې ځایه منفک شې بیا دې په بل ځای کې څوک نه مقروي له وخت سره ځان برابر کړه .

له قرغې څخه نیغ خیاط ته لاړو ، هغه ته مو د پطلونونو فرمایش ورکړ.

بله ورځ چې کله له اصلاح شوې ږېرې او پطلون سره دفتر ته لاړم نو لومړی خو د دفترڅوکیدار ونه پېژندلم نور دې وو تېله مې کړي، د دفترملګرو مې په لیدلو له خندا خپل تشي ونیول آن له ډېرې خندا دځینو له سترګو اوښکې راغللې .

نن چې ناهید دفتر ته راغلله نو خفه وه راته یې وویل ، پرته له دې چې پلار یې ترې موافقه واخلي چاته یې په نوم کوي. هغې دا هم وویل چې ،پاتې ستا کار دی یوائې ماخبر درکړ.

داخبر نه و سم اتوم بم وچې پر ما راولوېد . څوک نه چمتوکېده چې دناهید ریباري راته وکړي ، استاد محمود ته مې بیا وویل خو په انوبانو یې ځان خلاص کړ. خیر څوملګري پیدا او ماښام دناهید دوی کور ته ورغللو هغې لادمخه راته ویلي وو چې دپلار له درنو شرطونو څخه یې ونه وېرېږم ځکه چې ددوی رواج دادی چې لومړی خور او لور پر زوم ښه درنه کړي خو وروسته یې بیا نه ځوروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دناهيد پلار دځومثالونو په وړاندې کولو خپل رواج راتـه واوروه. ، آسانه: بس په کابل کې کور ،موټر، پـه عصري هوټل کې شب خينـه ،کـوژده او واده ،پـه واده کـې موسـيقي ، يوسـېټ سـره زر، لـه واده وروسته دناهيد دکار نه مخنيوی....

زه دناهيد دمينې دومره خمار وم ماويل چې که دفرهادپه څېر رانـه داسمايي غره سوری کول هم وغواړي منم يې ، له ځنډ پرته مې له ټولو سره موافقه وکړه .

له پلار ،مور او کورنۍ سره له مشورې پرتـه مـې دناهيـد دستمال واخست.

څه پيسې مې په بانک کې وې ،څه مې له ملګرو او دفترڅخه پـور او کـوژده مـو پيـل کـړه ،کـه هرڅـومره مـې ناهيـد تـه وويـل چـې دکامرو پروړاندې دکوژدې دمراسمو عکاسي زمـوږ لـه رواج سره پـه ټکرکې دي خو و يې نه منله ، ويل يې چې بيا بـه ټولې همزولـې پېغـور راکوي، موږله خلکو سره همچشمي لرو ...

کله چې دکامرو پروړاندې ناهيدزمـا او مـا دناهيد پـه ګوتـو کې دکـوژدې ګوتـه (چلـه ) ننوېسـتله ، او کيـک مـو ديوبـل پـه خولـه کې ورکـاوه نـو دلاسونو دلړزېدلو لـه کبلـه مـې کاشوغه دناهيـد دخولـې پرځای دهغې پوزې ته وروړاندې کړه.

ماهڅه وکړه چې مېرمن اوکورنۍ مې پر دې کار خبر نشي خو آن دکوژدې دمراسمو ويديو مې هم چاکورته وړې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواده دمراسمو چمتوالی مو پیل کړ ، دناهید پلار قسم وکړ چې له خپلو شرایطو به یو انچ هم شاته نشي .

ناچاره شوم کلي ته لاړم ،خو پلار مې زموږ دکوژدې دویدیو پرلیدلوډېرپه غوسه او ویلي یې و چې مامې دا زوی بیخي عاق کړی دی ،دکلي سپین ږیري مې ورته ننواتې ته راوستل ، هغوی ورته وویل چې پښتانه خو کوژده شوې ښځه پرېښودلی نشي نو مجبوریې چې کوراو ځمکه دې خرڅه اواینګور دې په کور کړې .

پلار مې څه دسپین ږیروتر فشار لاندې راغی اوڅه یې دتره او تربور دپېغور وېره وه ، ځمکه یې وپلورله .

د واده نېټه مو کېښوده ،هوټل وټاکل شو ، کارتونه ووېشل شول ،کور چمتو شو ، زموږ له مخالفت سره سره له سندرغاړو اوکامره والاوو سره خبرې وشوې، سبا شپه واده واو نن زه ډېر بوخت وم چې دناهید زنګ راغی ، له "هلو" سره جوخت یې راته وویل چې سبا هرومرو فلانۍ ستوډیو ته راشه زه هم درځم. ما ورته وویل الله دې خیر کړي هلته څه کوو په غوسه یې وویل، ولې ته خبر نه یې چې دلته رواج دی چې دواده په شپه په هوټل کې هلک او ناوې ګډه رقص کوي ته خو ساده سړی یې رقص دې زده ندی سبا هلته دګډه رقص تمرین کوو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زړه هدیره

له هماغې ورځې راپه دېخوا چې خلک په کیسه خبر او پېښه رسوا شوه نو د سره رود جهادي شوری غونډه وکړه او د نورو پرېکړو ترڅنګ یې دا پرېکړه هم وکړه چې ټول کوچیان باید د جګړې له لومړۍ کرښې نه کډې بارکړې او په نورو سیمو کې هم د شپې له خوا باید د خپلو رمو ښه څارنه وکړي ،او د ګرځېدو مخه یې ونیسي ،ځکه چې د تېرې شپې پېښې هم د سیمې خلکو او هم مجاهدینو ته اندېښنه راولاړه کړې وه ،د څوارلسو کلونو خبره ده کلیوالو به ویلې چې د سږ کال ګرمي په تېرو څو لسیزو کې ساری نلري لمر به پر مخ دومره بد لګېده چې تابه ویل ګنې همدا اوس د "باغ بالااو "دیبلو "جوازونه (ګانې) سپاره دي ،او د ګوړې په جواز کې د شربت په تبخې پسې اور اچوم او یا خو چې "بېټنیو "کې د خښتو د داشت په دانه کې درګرده دداش له خولې نه په خښتواو تیږو پسې د وچو لوخو ګېډه ور

(c) ketabton.com: The Digital Library

غورزوم او د تیږو او خښتو ګرم او سوزند اسو بلې مې د عمل د غبرګون په ډول مخ ته دا غونه را کوي ،د ونو ،بوټو او کروندو وزرونه زوړند وو ، د لمر قهرجنو وړانګو د سره رود د روانو او بوګوګل ته لاره پیدا کړې وه او کبانو له ګرمۍ نه د خلاصون په هیله د اوبو غاړو ته د لوخو او منجانو سیوروته پناوړله د اسمانڅک او ویاړمن تورغره جنوبي لمنو کې سرابونو د غرونو بېله لړۍ جوړه کړې وه ،د لاله وزرونه دو مره مړتاوي وو چې تابه ویل د ښکلاکوم وژونکي ورته د خپل حسن سزا ورکوي ،د غره له خوا الوتونکیو وږمو د "ادم خېلو "شمشپور "او کټه پور "باغونه محاصره کړي وو ،د ګلابو ،صدبرګو ،رامبېل او چامبېلو رنګونه الوتي وو ،د توت ،زردالو ،الوچو او ناکو د شنو پاڼو رنګ تور ته مایل شوی و ،د پېژواک د بڼ د نارنجانو ،نرګسو او جریبند ګلونه څه د څانګو په اوږو سپاره او څه په مځکه سجده لګولې وه ،یوازې د "سره رود "شنې ونې او یخ کاریزونه وو چې خلکو به یې سیورو او غاړو ته لږ ارامه ساه اخېسته.

که له یوې خوا ګرمۍ خپله پنجاله لګولې وه نو له بلې خوا د کلیو خلک هم چې د ژوند یوازینۍ اتکاء یې په پوله او پټي وه په دې ورځو کې د بل هره وخته مصروف لیدل کېدل ،کارونه دور په بیړه روان وو چې تابه ویل هرڅه په ځان پورې پطرولي ماشین تړلی دی ،غنم له یوې مخې پاخه شوي وو څوک چې تکړه وو او مېړونه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

درلودل هغوی غنم په کور او بوس په بوسارو کې ځای په ځای کړي وو ، چاغنم رېبلي او درمند ډاگ ته رسولي وو ،او چا لا درگرده رېبل ،د جگړې د کرښې بدلون او د روسانو او د هغوی د گوډاگیانو د پرمختگ ،د جگړې د پیل او دباروتو په لمبو کې د پخو فصلونو د سوزېدلو وېره ،د شخصي دښمنیو او بالاخره د غرض د خاوندانو لخوا د خپل غرض د ترلاس کولو او کبانو نیولو لپاره دابو خړول هغه فاکتونه وو چې کروند گریې په ډېره بیړه د خپل لاس د تنا کو د محصول راټولولو ته اړو ېستي وو.

هغه مهال لا هغه امریکایي چانټې نه وې رارسېدلې چې بتکیو په ځېر به شایا تخرگ ته اچول کېدلې د گرمۍ له زوره به واسکټ هم نه اغوستل کېده او بې واسکټه به په چانټو کې شاژرونو د پښتۍ هډوکي سولول او د سیني پوستکی به یې توره د جهاد مینه او اسلامي جذبه وه د سترېا فکر له چاسره نه وه هر چا به کوښښ کاوه چې د چانټې ټول جېبونه ډک وساتي ،څلورپنځه شاژرونه به مو له چانټې پرته له ځان سره فالتو گرځول ،لاسي ،گرېټونه به مو په نسواري ته ورته عسکري رنگه چانټو کې چې په سینه به مو رازوړندې وې او دبندونو د تړلو په وخت کې به مو له تشو هم راتاوې شوې ټومبلي وو ،د خطر ورځې او شپې وې ډېر وخت کې هم چانټې نه خلاصولې ،د ډبل ،چره ایز،گلیټې ،سرپوښ ،سه پست او دوبست ټوپکونو وارتېر و چینایي کلاشنکوفونه ډېر او مصري او امریکایي

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم بیا لړ وروسته راپیدا شول ،او روسي خو به یوازې له هغه نېکمرغه سره وو ،چې د کوم روسي او یا د هغه د نوکر ژامه به یې ورماته کړېوه ،او د هغه وسله به یې ترلاسه کړېوه.

"په ادم خېلو "د مجاهدینو او په "بازید خیلو "کې د ه روسانو او داخلي کمونستانو وروستي سنګرونه وو ،یا په بله وینا همدا د جبهې لومړۍ کرښه وه نو د بازید خېلو په کمرونو او هدیره کر به مو د دښمن د پوستو پرضد سنګرونه نیول او د شاهي کلا او بازید خیلو هوارډاګ به مو د سپکو او درنو وسلو د مرمیو په تبادلې سپین پړق وو ، مورچلونه سره ډیر نږدې حتی په کلاشنکوف به مو هم خپل هدف ښه ویشتلی شو ،د ورځې به چې هر چېرې ووخو شپې ته خوب ته به معمولاً بحرین ته راتلو نه مو غوښتل چې له بحرین نه دې بل څوک هم ګټه واخلي او یادې زمونږ مزاحمت وکړي که زمونږ د شپې د خوب د ځای په هکله به د دوستانو پوښتنې هر څومره ډېرې او په هر تعبیر وې خو زمونږ ځواب همدا یو بحرین و ،بحرین خلکو ته د اند ېښنو کڅوړه وه ،یوه معما وه چې هر چا ته یې حل اسانه نه و ،یو راز و چې رسوا یې یې څومیاشتې وخت وغوښت.

دجهاد ،اسلام او اسلامي ارزښتونو نه ددفاع سپېڅلی احساس د وطن د ګټلو سر شاره جذبه پښتونولي او په رګونو کې د ویاړمن افغان قوم په تاتوبي د یو یر غلګر دتیري د ځواب لپاره توده وینه.... هغه لاملونه وو چې له مجاهدینو نه یې د سکون او ارام تښتولی وو

(c) ketabton.com: The Digital Library

،داسي شپه به ډېره کمه وه چې د مجاهدينو د يو ګروپ لخوا به پر دښمن تعرض نه ترسره کېده ،کله کله به چې روسان او د هغوی ګوډاګيان په روسي ودکا مست شول نو هغوی به هم د مجاهدينو په مرکزونو غلچکي بريدونه تر سره کول.

د مجاهدينو د خوب ځايونه درمند ډاګونه وو او د اځای يې ځکه مناسب ګڼلی و چې يو خو به هلته ښه هوا لګېدله او بل به بوسو هم دبسترې کاروركاوه ،ډېره ساحه به ښكارېدله او دونو ،كلاګانو او ....نه په استفادې د دښمن له بريدنه به هم مصئون وو. او كه مليشو به د چريک په تمه د راتللو زحمت وو ېستنو په دې سپين ډاګ کې به شاوخوا غنم يې ټول ربېل شوي وو ،ښه جګړه تر سره كېدله ،دابيا ببل راز و چې موږ ولي د ټولو مجاهدينو پرخلاف د درمند ډاګونو په ځای بحرين ته زور کاوه.

زمـوږ د ګـروپ قومانـدان (عاشـق الله مامـا )وو، چـې اصـلاً اخوندزاده او د عمر له پلوه په ګروپ کې تر ټولو لوی د(۳۳کالو په شاوخوا کې )و او همدا د عمر ډېر ښت يې ددې لامل شو چې موږ يې د خپل ګروپ قوماندان وټاکو ،دی داوږدې ونې ،پلن او غنم رنګه مخ خاوند او په غوښه ښه اباد سړی و، د بشاشې قوارې ،ګرد چترالي پکول ،په جيب کې د يو درجن قلمونو او پاک ستره ګرځيدلو په ليدلو به يې هيچانه انګېرله چې ګوندې دی به بېسواده وي ،په کلي ولس کې په انجنير مشهور و او د شيخ مصري ډاګ د کوچيانو زېړ کل

(c) ketabton.com: The Digital Library

اکابه ورته په ارجینرصیب غږ کاوه ،عاشق الله ماما او ګروپ يې په بهر کې ښه نوم درلود ،دی دیوازیني ګروپ قومانداني و چې مجاهدین یې ټول باسواده او باکتوره وو او له قهار لالا نه پرته چې تقریباً د عاشق الله ماما په غاښ به و نور ټول خامه خوله او اکثره یې د لېسو هغه زده کوونکي وو ،چې ددوبي له رخصتۍ نه په استافادې یې سنګرته مخه کړې وه ،د عاشق الله ماما ډېر خویونه موږ ته دمنلو نه وو ،او هغه درونش ( را )کشت وبېرونش تره (تورا )متل دلته ښه مصداق پيدا کولی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سور تعویذ

دواده جم اوجوش هماغسې روان و. دخوښۍ رنګین ځراغونه لا د کور په دېوالونو پرقېدل، دګډاګانو او سندرو محفلونه هماغسې تاوده و. فضاټوله سندریزه وه ، د ښځو او نجونو په تن کې رنګینو جامو سینګار داسې انځورولـه لکه په پسرلي کې چې څوک دګلو کروندې ته ننوتی وي.

یوازې همدا څوشېبې د مخه یې ناوې د یولو کاروان په بدرګه په ګلپوش کرولا کې راوستې وه ،ځینې نجونې له ناوې سره ناستې وې ټوکې اوخنداګانې یې کولې د ((مبارک دې وي ))....(( قدمش نیک باشه... )) اوازونه له هرې خوا راتلل ،یوې به ویل چې ((دا خو یې سمه پري ذاته راوستې ده، خدای دې یې له بدو سترګو وساتي، )) بلې به ویل: (( په ټول کابل کې یې ساری نشته، سمه مرغلره ده ))بلې به ویل چې: ((داسې ښکلیو پېغلو ته ارایش اود واده جوړه څه په کار ده ؟؟!)) دې بروپېغلو او ځوانانو زړونه همدې ورځ ته تخنېږي او دانتظار مرګونې ورځې شپې تېروي ،خو په پاسته کوچ کې ناسته ناوې خفه ښکاري ،پټې پټې سلګۍ ووهي ،نه د کابل د مستو پېغلو په څېرخاندي نه د سترګولاندې پټ جریان څاري ،نه په ټوکو ټکالو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې برخه اخلي ،نه د کليوالو پېغلو په څېر د ناوې توب په تخت له چاسره پسپسکې کوي ،نه عکاسۍ اونه فلمبردارۍته چمتوشوه ،ناارامه ،غلې اوخفه ناسته ده له سترګو څخه يې د مرغلرو دانې توييږي ،نجونې يې په ټوکو کې ځوروي ،يوه ورته وواييي ((ورکه شي په زورخو مونه يې راوستې ولې دومره ژاړې؟((

بله پرې غږ کړي ((يې کابلۍ خو خوی د اطراف د پېغلو کوي ))

د يخوابله کوټه کې سپين ږيري او ملايان ناست دي د نکاح تړلوبندوبست کوي،((پلانکی کور يې مهرکې ورکوم )). ((نه نه له دې کور سره به لس زره افغانۍ هم ورکوي )) دناوې اوشاه د نکاح وکيلانو جګړه روانه ده.

غفور له څلور کاله انتظار ،هجر،منډورامنډ وروسته د خپل اميد غوټۍ غوړېدلې ويني ،کله کله يې ذهن دا هرڅه نه مني ،له فرېبا سره واده ورته خوب اوخيال ښکاري ،((رښتيا هم فرېبا به دناوېتوب په سره اوشنه جوړه کې په بخملين تخت زما ورتللو ته انتظارکوي ؟ زه خو خوب نه وينم )) بياله دې وېرې اوږوته ټکان ورکړي چې هسې نه دخيال څپو اخستی وي.

د ناوې د زړه ټکان نور هم ډېرشو ،د سينې په قفس کې يې زړه تنګ او هډوکي يې ورته د اوسپنې پنجرې وګرځېدلې ،څوځله يې د لاس په دستمال د مخ او تندي خوله وچه کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپه سرېږي خو دفرېبا دبدن تودوخه ډېرېږي ، چارچاپېره ښځې دناوې پټ غم ته فکر وړې دي ، دنکاح تړلو مراسم پای ته ورسېدل ، دغفور پلار نکاح خط خپلې ښځې ته ورکړ چې په فرېبايې هم لاسليک کړي ، دغفور مور قلم او نکاح خط پاڼه فرېباته دلاسليک لپاره ورورړه ، او مېز دپاسه يې ورته کېښوده ، دفرېبا ساه په وجودکې ښکته پورته شوه سترګې يې له کاغذ سره وګنډلې څوشېبې چپ وه بالاخره وروستی تصميم يې ونيوه قلم يې په کاغذ راښکه خودلاسليک پرځای يې پر پاڼه ليکل پيل کړل ، له ليکلو وروسته يې پاڼه کېښوده دخوب او وصال وخت راورسېد ، ښځو نوره کوټه پرېښوده ، رواني شوې ناوې په وروستۍ وتونکې نجلۍ په لړزېدلې لهجه ورغږ کړچې يو ګيلاس اوبه ورکړي ، نجلۍ هم له اوبو ډکه شيشه يي ګيلاس دناوې په سرولاسونوکې ورکړ ، او ووتله ، له ځانه يې وپوښتل دا يخه يخني وګوره او دناوې تنده ؟غفور دانتظارشېبې شمېرلې ، چې کله به خونه له خلکو وزګارېږي ، او دی به دفرېبادزلفو هريو تار بېل بېل شمېري ، خوانښې يې دنکاح پاڼې پسې دناوې خونې ته دوروستي ځل لپاره ورننوتله ، خوددروازې له خلاصېدلو سره سمدستي يې داسې چيغه له خولې څخه ووتله ، چې دزلزلې په څېرېې ټوله کوڅه وخوځوله ، ناوې په تخت باندې رنګه بنګه پرته وه ، له خولې څخه يې وينې بهېدلې ، سپينې شيشه يي غړۍ يې تک سور رنګ اخستی و ، دتيو او غاړې منځ کې يې د وينو کرښې داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

انځورو له لکه دوا ورو منځ کې چې دوینو لښتی بهېږي ،خوابښې یې دفرېبا سرپڅپل زنګانه کېښوده ،خوله یوڅو کوچنیو سلګیو وروسته هغه دمرغلرو لړ دتل لپاره داني شو ،په لږ وخت کې ښادي په غم بدله شوه ،چیغو او کړیکو فضاونیوه ،هغه نجوني چې لږه شېبه وړاندې یې هر رګ سندریز و اوس سرې سترګې ولاړې وې. ،په شیشه یي ګیلاس کې یې دتوروا وبو یوغړپ لاپاتې وه غفور له فرېبانه لاسونه تاوکړل ویل یې ((داولې ؟ولې دې په ځان ظلم وکړ ؟ ))

فرېبا ایله همدومره وکولای شول چې ترڅنګ یې پروت نکاح خط ته ګوته ونیسي چې دوینو څاڅکو الواني رنګ ورکړی و ،غفور دنکاح پاڼې ترشالیک په ډېره بیړه ولوست ،اوله هروڅو کرښو لوستلو وروسته به یې ،یوځل دفرېبا غبرګې غبرګې جسد ته وکتل ،کله چې له لوستلو څخه وزګار شو ،نو همدا یوه خبره یې تکرارو له چې ((په خدای مې دې سوګندوي چې غچ به د ې اخلم ،ستا په ښکلا اوځوانۍ مې دې قسم وي ،چې ستا او تاته ورته نورو لسګونو ،سپېڅلو معصومو ،پېغلو انتقام اوبدل به اخلم )) ډول ډول ګونګوسې خپرې شوې ،راز راز تبصرې کېدلې ،چابه یوڅه ویل او چابه بل څه ،چابه ویل چې غفوریې نه خوښېده ،په زوریې راواده کړه ځکه یې نه ورسره عکاسي وکړه اونه فلمبرداري ،چابه ویل هغه فلانکي هم ډېره غوښته ،خودې ونه منله هماغوی څه شی ورکړل ،هماغوی دکوم دوست په جامه کې زهر ورکړل((.....

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغفـور سرو اسـوېلیو فضـاونیوه،نورنو دتـورن غفـور پـه پسـرلي خزان ولګېده ،انزوااویوازېتوب خوندورکاوه.

کلونه تېرشول نظامونه اورژیمونـه رنګ او نـوي شـول تـورن غفـور ډګروال شو ،شپه اوورځ یې پـه سـوچ کـې و ،مـال اوجایداد یـې ډېـر وه خو واده یې نه کاوه ،په کـور اوکوڅه کـې پـه لیـوني ډګـروال وپېژنـدل شو ،دواده دنه کولو پـه اړه یې له هرچاسره پوښتنې راپیداشوې ،چابـه ویل په بدکارۍ وخت تېروي ،چابه ویل ناروغ دی ،مابه هم ورسره پـه همدې اړه ټوکې کولې ،کله کله به مې دپېغورپه بڼه ویـل چـې ډګـروال صاحب،ترمورږ ځان ښـه پېژني ،هغـه بـه لـه ځان نه خبروي ،ځکه واده نکوي ،پردۍ خوراولور ځانته کښېنول هم څه اسانه کارنـه دی ،خـوده بـه لـه یوسـوړ اسـوېلي سـره ویـل ،چـې مایوځـل واده کـړی سـنت مـې اداکړي دي،خوچې خدای راباندې ونه لوروله زما څه ګناه ده ،؟بیابـه لـه غوسې اوخفګانـه تـور اوشین شو ،اسوېلیوبه یې د سرابونو لـړۍ جوړه کړه ،غم اوغوسه بـه یې دکـونین ګولیـو پـه څېـر دلاړوپـه مرسـته زړه ته ورتېل وهله.

لـه ډګـروال غفـور سـره زمـا ملګرتـوب دصمیمیت حدتـه ورسـېده ،ډېررازونـه اواسـرارمویوبل تـه رسـواکړل ،دفرېبالـه مرمـوزې مړینـې څخه خبروم خو رېښتونی جریان له ده څخه پرته بل هېچاته معلوم نـه و ،دده اسـوېلیو اودرد شـکمن کـړی وم،یوځـل مـې را ایسـار کـړ اوورتـه ومـې ویـل ،بـل تـه پـه ویلـو سـره دغمونـوپېټي سـپک کېـږي ،او غـم

(c) ketabton.com: The Digital Library

کمېږي ،څه ناڅه دزړه تسل هم کېږي ،نن به راته ټوله کیسه کوې،ډګروال هم لاړې تېرې کړې راته ویې ویل چې ، نن زه هم هرڅه درته وایم ،اوداځکه چې ښایي خپل هوډکې به بریالی نشم،ښایي دغچ ارمان دزماني دیوتوردا غ په څېر له ځان سره ګورته یوسم،ځواني هره ورځ دبوډاتوب خواته لارلنډوي،خوبیاهم نهیلی نه یم.

((زه په حربي پوهنتون کې دوروستي کال محصل وم ، فرېبا زما دتره لوراودملالۍ په لېسه کې زده کوونکې وه ، ،تره مې ښه شتمن سړی و .دفرېبا دځوانۍ پوهې اوښکلا ساری نه لیدل کېده ، هر کال به د خپل ټولګي اول نومره وه ،زړه وړونکي حرکتونه اوخورانېک ،اخلاق یې ،درلودل هرچابه کوښښ کاوه ،چې دګلاب داګل دې دده په شمله کې وټومبل شي،دوزیرانو په کچه خلکو ،پرې جرګې اومرکې وکړې ،خوزه یې مینې بېسده کړی او له هرکاره وېستی وم،دخیال اوسوچ ببړۍ به مې تل دفرېباد سترګوپه سمندرکې لاهووه ،تره اودتره مېرمنې مې مورته ویلي ووچې مور.فرېباته ثوځله دغفور یادونه کړېده ،خوهغه وایي چې زه بېخي واده نکوم ،هر غوښتونکی چې راشي دفرېباځواب همداوي،هغوی مې مورته داخبره هم کړېوه ،چې تاسې فرېبا راضي کړۍ زموږخوښه ده ،شپې او ورځې تېرېدلې زه صاحب منصب شوم،فرېباهم له دولسم څخه فارغه شوه ،خونه یې بل مېړه کاوه اونه یې له ماسره واده ته غاړه ایښوده،ماکه هرڅومره له

(c) ketabton.com: The Digital Library

فربیا ښځه زړه صبراوه ،خو پایله به یې منفي وه ،فربیا له فراغت ښځه وروسته نه رسمي دنده واخسته او نه پوهنتون ته ولاړله له ښوکالو ښځه راپه ډ بخوایې د ځوانۍ په پسرلي خزان ګډوو ،ورځ په ورځ یې رنګ ژړېده ،یوازېتوب او ګوښه توب یې غوره کړ.

په پای کې له موراو پلار ښځه نهیلی شوم په خپله مې ورته یادونه وکړه ،او په ډول ډول وعدو مې له ځان سره واده ته وهڅوله ،خو هغې به همدا ځواب راکاوه ،چې زه واده نکوم ،که بل ځای کې مې واده وکړ ،نو تاته مې وینه رواده ،خو دې خبروزما دزړه بند تړلی نه شو ،هره ورځ او هرشپه به مې دهمدوی په کورکې ،وه تر دې چې ډېره مې مجبوره کړه ،نو په داسې حال کې چې او ښکویې په اننګولارنیولې وه ،په ژړغوني انداز یې راته وویل چې زه ناروغه یم ،او ناروغي مې هم دیوې اونۍ یا یوې میاشتې نه ده بلکې دائمي ناروغي ده ،زه دکورد سمبالولو نه یم ، نوولې دبل چاژوند خراب کړم ،خوما ورته ویل چې که ته هرڅومره ناروغه شې په هرحال زما قبوله یې ،له تا پرته ژوند راته دوزخ ده ،ته زما ژوند وژغوره ،هغه زما دډېر اصرار او فشارپر وړاندې بې ځوابه شوه او غاړه یې کېښوده ،لږ وخت وروسته مو د واده ترتیبات ونیول ،خود واده په شپه چې فربیا ځان وواژه نو دنکاح پاڼې په بل مخ یې دامضمون لیکلی و ،غفور له غاړې ښځه دڅرمنې سور تعویذ راوو ښت او له سپړلوو روسته یې په لوستلو داسې پیل وکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library

))ګرانه غفورجانه تاته اوږد اوهوسا ژوند غوارم مامخکې هم دهمدې لپاره واده ته زړه نه ښه کاوه، چې همدغه حالت اوهمدا شپه مې زغملای نشوه ،اوس مې هم زړه ته ډېر ډاډ ورکړ خو فکرکوم چې دمرګ پرښتې مې نور ژوندنه غواړي ،دپېښې جريان درته په دې هيله ليکم چې که ته اونور ځوانان زماپه خبر دهوس د قرباني شويو پېغلو پوښتنه وکړئ ، ،پېښه داسې وه: ،ددولسم ټولګي زده کوونکې وم ،يوه ورځ چې لېسه رخصت شوه نو دکور لاره مې ونيوه ، يواځې روانه وم خودې ته مې پام وه د دلېسې له دروازې څخه له موږ سره روانه وه ،کله به مخکې شوه اوکله به وروسته ،کله چې يوازې شوم څوګامه وړاندې راته يولوکس والګاچې حکومتي نمبرپلېټ يې درلود په مخ کې ودريده ،دوه تنو ترې دراښکته کېدلو سره سم يو دستمال زماپوزې ته نژدې کړه ،اوله هماغه ځايه بياله ځان څخه خبره شوې نه يم ،يووخت مې چې سترګې وغړولې نو ځان مې په يوه ډېره ښکلې مجلله ماڼۍ کې وليديو بوډۍ ښځه ،راوړاندې شوه او دډوډۍ خوړلو بلنه يې راکړه ،دمېزپه سرډول ډول کبابونه ،اومشروبات ايښي وو خوماته داهرڅه زهرښکاريدل ،وروسته همدې بوډۍ په يو لوکس تشناب کې ولمبولم اوبيايې د اړايش خونې ته بوتلم ، ،زه په دې زرين قفس کې بندي وم،يو عسکر زماد ژړا په ليدلو رانژدې شو راته ويې ويل بدمرغې ولې ژاړې؟داځای په نصيبونو هم چاته نه رسېږي ،ته نه يې خبره چې ته دچاميلمنه يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم ثوک به دې مړی نو سپارې ونه ورته وڅان او نکړې ژړابس اوکه، داخل شو درد په ستونی مې خفګانه هشوله ماښام، کوري ونه پې تخت یو په وروستلم یې ته خوني یوې راغلله ښځه بوډۍ هماغه راننوته ثوک یو ته خوني، وروسته شپه لړه وتله خپله او کښېنولم سبايې کړه خيرې يې ته پټه ډحيالو زما او کړ لوټ يې عفت زما چې وې پرتې هم پردې يې ته شيشو تورو چې موټرکې لوکس هماغسې ښکته يې کې ځای داسې په او، کړم سپره کېدل ليدل نه ترې هيڅ او، شو ورک کې رپ په دسترګو موټر او برکم ډبيروبار هلته چې کړم.

غفور په داسې حال کې چې زګېروي او اسوېلي يې ثوځله د خبرولړۍ غوڅه کړه دليک لوستلو ته دوام ورکړ: ماڅانته ډېر ډاډ ورکړ خوګته يې ونکړه زما غيرت ماته له تا سره دمخامخ کېدلو اجازه نه راکوي تاته دنېکمرغه ژوند هيله منده يم.

((ستافرېبا))

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شفر

کله به چې، ډریورانو له بګرام څخه جلال آباد ته او یا هم له جیکب آباد څخه بنون ته کانتینر راورساوه نو د تیلیفون په لیکه به یې موږ خبر کړلو او په یو ځانګړي شفربه یې د ( چمتو اوسی ) قومانده راکړه. موږ به هم خپل د مهرو لاک د خلاصولو وسائل پاک کړل په دې خاطر چې، یوه سخته ، عصري او د یوې پرمختللې ټکنالوژۍ له خاوند څخه مو غلا کوله ، نو خپل د غلا وسائل به موهم ډېرمجهز ساتل، او په همدا اسې پرمختللو هېوادونو کې زموږ مېشتو ملګرود لوړې ټکنالوژۍ لرونکو کمپنیو باندې راته جوړول. ټول وسایل مو کمپیوټرایز وو ، کله به چې کانتېنرلوا ړګي ته راورسېدنو یو ګوښه سرای ته به مو تاو کړ، مهرو لاک به مو یې په ډېرې استازۍ سره د همدې کمپیوټرایز او تخنیک په مرسته خلاص کړ، خپله برخه به مو ترې بیله کړه او بیا به مو په دومره مهارت ببرته مهر کړ چې، هیڅوک هم پرې نه پوهېده.

اوس مونو تجربه دوه کلنه شوې وه او په دې پوهېدو چې، کوم کانتینر زیړ رنګ ولري نو په هغې کې نظامي وسلې او مهمات وي ، کوم کانتینر چې څلوېښت فوټه وي او سور رنګ ولري نو په هغه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوژیستیکي مواد وي، کوم کانتینرچې، سپین رنګ ولري ، جنراتور ورته چالان وي او پکې یې ګرځي نو په هغه کې دوا او درمل وي چې، امریکایان یې له بګرام څخه جیکب آباد او له جیکب آباد څخه بګرام ته خپلو نظامي او ملکي هډو ته لېږدوي.

یو کانتینر مو چې ،جلال آباد ته روان وو، لاره کې پرانیست، ټول د کوچنیانو د لوبو له سامان او ژاولو څخه ډک وو. ورته حیران شوو چې، په افغانستان کې مېشتو بهرنیو ځواکونو خو دلته له ځانه سره خپل کورونه او کوچنیان هم نه دي راوستي او دا مو هم نه دي اوربدلي چې، دوی دي چېرته په کوم ښوونځي او یا وړکتون کې افغانو کوچنیانو ته د لوبو سامانونه ورکړي وي. نو بیا دا سامانونه هغه هم په دومره کچه څه کوي؟

د کانتینرد منځ سامان به نه ډریورانو ته د کوم لست له مخې تسلیمېده او نه به ترې د کوم لست له مخې غوښتل کېده، بس تیار ، بند او مهرو لاک کانتینربه یې ډریور ته بار کړ او کله به چې، خپل منزل ته ورسېد او مؤظفینو به یې کلفونه او مهرولاک جوړ ولیدل نو بیا بله هېڅ خبره هم نه وه. او خدای خبر چې، شپږ میاشتې وروسته به یې بیا کانتینر خلاصاوه او که لس میاشتې وروسته.

داخل به سهار لس بجې وې چې، شیندي ګل استاد له جلال آباد څخه تیلیفون وکړ او په شفر یې په دې وپوهولو چې، مازدیګر مهال لواړګي ( لنډیکوتل ) ته رسېږم.مورږ هم له درې ( دره ادم خیل ) څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

حرکت وکړ، د تیراه او باړې له لارې مو ماسپښین مهال ځان لنډیکوتل ته ورساوه.

ماښام تیاره وه چې، یو څلوېښت فوټي سپین رنګه کانتینر چې، جنراتور یې روښانه او د مخې او شا دواړو خواو څخه یې منځ ته پکي لګېدل وو راښکاره شو.

کانتینر مو له خپل پخواني تعامل سره سم سرای ته تاو کړ. او داسې مو وپتییله چې، دا ځل کانتینرلوی دی او له بګرام څخه یې جیکب آباد ته ښه ډېره دوا بار کړیده ، نو موږ به هم تري ډېر دومل ښکته کوو.

مهرو لاک مو پرانیست د کانټینر د دروازو له خلاصولو سره د کانتینرد منځ ټول ګروپونه په اتومات ډول روښانه او کانتینرسپین پړک شوهمداچې، د یخچال په خانو کې مو په سرو سرو مړو چې، ټپونه یې هماغسې ځلېدل او بیرغونه پرې غوړېدلي وو سترګې ولګېدې نو هډوکي مو زیږه او بدن مو مېږي مېږي شو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غبرګې جنازې

کلي ته په يو وخت د غبرګو جنازو په ننوتلو ټوله فضا کړيکو ونيوه تا به ويل چې دلته ساندې او ژړاګانې وربېږي هره سترګه لمده او له هرې خولې اسويلي ختل، چا به د هوسۍ نصيب او تقدير پړه بلل او چا به يې پلار ،چا به د جنازې يو کټ ته د پړ ګوته نيوله او چا دبل ،يوه به ويل چې خون يې د جباري پرغاړه دی، دا ټول د همده له لاسه دي .بل به ورسره د تائيد سر وخوځاوه : (( ته بلکل ريښتيا وايې جباری ډېر حريص او ضدناکه انسان دی د خپلې لورژوند يې هم خراب کړ او نورې کورنۍ يې هم دويرپرټغر کښېنولې((.

که څه هم هوسۍ خپل پلار ته په زغرده ويلي وو چې هيڅکله به هم له اشرف څخه پرته له بل چا سره ژوند شريک نکړي ، دهغه دقانع کولولپاره يې يوه لاره هم نه وه پرېښې ، يوه ورځ خويې د ټولې کورنۍ په مخ کې ورته دا هم وويل: يو خو دې له پوهنتون څخه منع کړم او بل مې اوس دې پوډري ته ورکوې ! !لدې خو ،ښه ده چې پخپل لاس مې ووژنې.!!

هوسۍ به چې هرڅومره خپل پلار ته د اشرف او د هغه د کورنۍ ښيګڼې ستايلې پلار به يې هماغومره ضدکاوه پر هغې به يې دبې

(c) ketabton.com: The Digital Library

حیاو سپین سترګې نوم کیښود :(( که پوهنتون ته مې پرېښې وای نورې به دې هم سترګې شکېدلې وای )) .

اشرف او هوسۍ له ګاونډیتوب پرته دولس کاله ټولګیوال او ډېر ښه دوستان وو تا به ویل یو روح په دوه بدنونوکې دی، دواړو په کانکورکې یو پوهنځی خوښ کړ او ورته بریالي هم شول خو دهوسۍ کورنۍ د اشرف دوی په پرتله لږ شتمن وو

.ددوی پاکه او سوچه مینه نور له هیچا هم پټه نه وه .خو هیچا یې دمینې پر سپیڅلتیا شک هم ونکړ.بازارۍ مینه او خویونه نه په اشرف کې واو نه په هوسۍ کې.

د اشرف مور او پلار دهوسۍ پلار ته نور په مرکو ،او ننواتو سترې شول خو هغه به همدا ویل چې زه پر دې څوک په خپله کورنۍ او شتمنۍ کې نه شریکوم، خا نی مې خپل تن او خپل هډوکی دی ،هغه ته چې زه خپله لور ورنکړم بل څوک یې کله ورکوي ؟ زماهوښیاره لورچې هغه سړی نکړي ،او له بد عملۍ یې راونه ګرځوي بل یې څوک له غمه مړه دي ؟.

دخاني په بدن کې وینه ورځ په ورځ وچېدله ، جړ او خیرن ویښتان ، دمستریانو په شان تورې او ککړې جامې... ،نورنو چا ددوه افغانیو باور هم پرې نه درلود .

(c) ketabton.com: The Digital Library

اشــرف د پو هنتــون ترڅنــګ د انګليســـي ، کمپيـــوټراو اداري کورسونه هم ولوستل دلياقت او خواخلاقو له امله يې دهراستاد او محصل په زړه حکومت کاوه. هغه سپورت ته وخت نه درلود خو دومره ښکلی و چې تابه ويل دبدن د ښکلا له کورس څخه فارغ شويدی. کليوالو به ويل چې دا زرينه جوړه الله(ج) ديوبل لپاره پيدا کړيدي.

پـلار يـې پـر هوسۍ بندېز لګولی وو چـې لـه اشرف څخـه ګوښـه واوسي خود مئينو پـه ديدن لا چا بنديز لګولی دی او بيا دمبايـل او انټرنيټ پدې زمانه کې.

کله چې له خاني سره د هوسۍ دکوژدې خبره توده شوه نو هغې څو ځله آن دځان وژنې او له اشرف سره د وطن دپرېښودلو پرېکړې وکړه خو هغه به ډاډ ورکاوه چې خدای (ج) به هرڅه اسان کړي دا کار زموږ کورنيو سپکاوی او پرسپينه لمن موداغ جوړوي.

خاني نور دکلي مشهور پوډري اوخس دزد وو دولسـوالۍ لـه بند څخه دخلاصون به يې دوه ورځې تېرې نه وې چې بيا به بندي شو.

هوسۍ کـه هرڅـومره خپلـه ژړا او اوښـکې وسـيلې کـړې خـو هـيڅ فايده يې ونکړه.

کـوژده وشـوه سمدستي واده هـم جوړشـو ، هوسـۍ چـې اوبـه لـه ورخه تېرې وليدې نو مناسبه يې ونه ګڼله چې دواده دخبر پـه اوربـدلو داشرف غم نور هم ډېر کړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دخاني پلارهم واده ته ځکه بېړه کوله چې که هوسۍ يې له زوی څخه سرې جوړ کړي

خوخانی له واده وروسته هم لا هماغسې پوډري،له ځان او دنيا نه نا خبره په شپو شپو به له کوره بهر وو .

اشرف دپوهنتون دليليې په دريم پوړ کې پيتاوي ته مطالعه کوي چې دهوسۍ دخيال ځپو لاهو کړ:(((ولې دا دومره وخت دهوسۍ ټيليفون بند دی؟ولې آن دمسج ځواب هم نه راکوي ؟ولې ګډوډ خو بونه وينم ولې....... په کلي کې داسې وړشخص به څوک وي چې دهوسۍ پوښتنه هم ترې وکړم اوکه سيم کارټ يې بدل کړی وي چې نوی نمبريې هم راکړي )) له ډېر سوچ وروسته ورته خپله تندار(کاني) چې ده ورسره ټوکې اومينه درلوده ترټولو وړ وبرېښېده چې له هوسۍ يې خبر کړي.

دستي يې ورته ټيليفون وکړ په خبروخبروکې يې ورته هوسۍ ياده وکړه، خو هغې سمدستي ځواب ورکړ :((ته لکه چې خبر نه يې؟ دهوسۍ قلم خويې له خاني سره وهلی و، دهغې د واده خو مياشت هم پوره شوه.)) داشرف ساه تېروېره شوه له لاسه يې مبايل ولوېد ولړزېد: ((زه به اوس دجباري تخم هم پرېښږدم. )) راپاڅېد منډه يې کړه ،څوځايه په زينو کې ولوېد ،له ګڼه ګوڼې په ډک ښار کې منډې وهي .ترهډې پر لاره له لس ځله ډېر له خلکو سره وجنګېد.، ښی او چپ يې نه پېژندل دسړک له يوې خوا بلې ته اوښت چې دمخامخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

راتلونکي شانزده بیست پمپر وغورځاوه او چې ترڅو دربېده نو ټایر یې پر سینه ولاړ وو.

داشرف پرمړي بارامبولانس لاکلي ته نه و ننوتی چې دکلي دلوی مسجد له لاسپیکر څخه اعلان واورېدل شو((خانی داکبرزوی اودجباروراره په حق رسېدلی نن مازیګر څلور بجې یې په زړه هدیره کې جنازه ده )) ډریور له یو چا دهغه دمړینې لامل وپوښت هغه ورته وویل چې بدمرغه خاني بیګا ډېره نشه کړې وه ، ویاله کې پروت و چې دشپې پرې اوبه راغلي اوو ژلی یې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قربانیان

د پل خشتي جامع مسجد په ختیځه دروازه کې مې ځای نیولی و. هر سهار به وخته دلته راغلم، خپل زوړ او پیوندي ټادر به مې چې، د ډېرو خیرو له لاسه یې سپین رنګ تور اوښتی و په مځکه اوارکړ، چکسونه به مې له تخرګونو څخه لېرې کړل د ټادر په څنډه به مې کېښودل، بیا به مې خپله مصنوعي (ساختګي) پښه وو پسته له چکسونو سره به مې جوخته کېښوده. پېنځه به مې تر ورانه رابډه وهله. د ورانه له پاسه به مې د خپلې غوڅې شوې پښې د ټپونو نښې او خاپونه خلکو ته واسطه کول او د روپۍ دوه وسوال به مې ترې کاوه، د خپل خېرن ټادر له پاسه به مې لومړی خپله دوه، درې افغانۍ کېښودې ځکه چې، دې کار د خلکو د پام په را اړولو کې راسره مرسته کوله. ددې ځای ښېګڼه دا وه چې، دلته بیروبار ډېر وو، وچه ډوډۍ هم ارزانه پیدا کېده.

کله به چې، دلته سوالګر کوچنیان نه وو، نو د خلکو پام به مو ږ ته و. خو چې ،ښځو او کوچنیانو به ژړا او کوکې پېل کړې نو بیا د چا پام مونږ ته نه وو ټولو به د خپل جېب خیرې او د بچیانو د سر خیرات هماغوی ته ورکاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه ورځ یو بل معیوب چې، د ځلیرویشت یا پنځه ویشت کالو به و په دواړو سترګو ړوند ، د مخ نیمه برخه یې سوزېدلې، بر چویې د پوزې له نیمې برخې سره نیمه زنه هم وړې وه، یو لاس یې لـه څنګل او بل یې له بیخه غوڅ وو هم راغی. هغه کوچنې چې، دده لارښود و او دی به یې له لمنې نیولی ګرځاوه ورته وویل چې: "همی جای است ده امی بغل بشی" ده هم شا دېوال او مخ د خلکو لارې ته کړ همدا چې، د ناستې تابیا یې وکړه او لا ځمکې ته رسېدلی نه و د نورو سوالګرو او په ځانګړي ډول د ښځو له احتجاج او غالمغال سره مخ شو "برو ګم شو تو از کجا امدي، ایجه به ما کس یک قیران نمیته، تو ام امدي دیګه جا یا سرت قات بود ، ایجه خو جای ام کم اس. اګه تو بشینی جایم تنګ میشه باز ما را م هی میکنه." خو ده په ډېره سړه سینه ځواب ورکاوه: "خیر اس وارخطا نشو هر کس نصیب خوده میخوره، کجا برم..." ښځو که هر څو مره غالمغال وکړ خو دده مجبوریت پرې زور ورووو.

هملته کښیناست. زما پرې زړه وسوځېد د بیچاه حال تر موږ ټولو ډېربدتر وو.

دلته زموږ غریبي نه کېده په ټوله ورځ کې به مو ایله لس پنځلس روپۍ پیدا کولې هغه هم داسې چې، کله به څوک جومات ته ننووت او بوټان به یې په دروازه کې پرېښودل نو موږ به له دې فرصت څخه ګټه واخسته، د هغه بوټان به مو د خپل څادر په پیڅکه پاک کړل،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګردونه به مو تري و څنډل، ځان ته به مو نږدې کېښودل او د بوټانو خاوند ته به مو دا تاثر ورکاوه چې، بوټان يې ورته موږ ساتلي که نه ... هغه به بيا له شرمه هم يوه روپۍ راخطا کړه. دلته نور، کور خو پربېږده آن چې ،زموږ د ګېډې کار هم نه کېده، هره ورځ به مو لس روپۍ پوليسانو ته هم ورکولې چې ،له دې ځای څخه مو ونه شړي.

زما خواته نوي معيوب راته وويل چې، وامې وربدل له معيوبينو او يتيمانو سره د مرستې دفتر له دوی سره مرسته کوي، دفتر يې نوي ښار کې دی زه خو په دواړو سترګو ړوند يم راځه چې ،دواړه يو ځای ورشو ګوندې څه مرسته راسره وکړي. ما چې، دا مې څو مه ورځ وه کورته وچه ډوډۍ هم نه وه وړې دا خبره ځانته زيری وباله دستي سوچ واخېستم دخيال په نړۍ کې په څو دقيقو کې شهرنو ته ورسېدم. د مرستې دا دفتر مې په ډېرې اسانۍ پيدا کړ، عريضه مې ورکړه هغوی پر ما ډېر زړه سوی وکړ او زما د غوڅې پښې او ځوانۍ په ليدلو يې ډېر خفګان او افسوس څرګند کړ. سمدستي يې ماته دوه بورۍ وړه، درې دوه نيم منې ټيمه غوړي، څلور منه لوبيا او صابون راکړل، کراچۍ مې ورته ونيوله، د کور په منځ کې مې وغورځول، نږدې وو له ډېرې خوشحالۍ سکته وکړم، خپلې مېرمن ته مې له دروازې ورغږ کړ: ((نن به ښه ډېر وړه لمدوې، ټول کوچنيان به په ډوډۍ او لوبيا مړوې، نن به کوچنيان وږي نه ويده کوې. ((له همدې

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره د دې معیوب بل غړ زما د سوچونو تناب وشکوه: "څنګه زما له خبرې سره موافق یې که نه؟ ".

سبا د پل خشتي په دروازه کې سره یو ځای شوو او له دې ځایه مو د نوي ښار په لور حرکت پیل کړ. ټوله ورځ مو د نوي ښار کوڅې ګز او ګام کړې. خو چا د دفتر درک راونه ښود. سبا مو بیا خپل هدف ته مخه کړه له ډېرو پوښتنو وروسته مو دفتر پیدا کړ. د دفتر اداري مدیر را څخه عریضې واخستې او د دفتر رئیس ته یې ورورې. رئیس سبا ته وروغوښتو، سبا په ټاکلي وخت ورغللو. رئیس قلم راواخست لومړی زما د معیوب ملګري مخ ته کښېناست او پوښتنې یې ترې پیل کړې.

- - نوم دې څه شی دی؟

- سردار اغا

- د چا زوی یې؟

- د نسیم خان

- د کوم ځای یې؟

- د پروان ولایت د جبل السراج د ولسوالۍ دده پایان د کلي

- کله معیوب شوې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

- پنځه کاله وړاندې

- قوماندان دې درسره مرسته نه کوي؟

- نه کله چې زخمي شوم او روغتون ته یې ویوړم، بیا مې ترنن پورې ونه لید یوه روپۍ یې راته ګوښت خوګ. خبر یم چې، ښه یې ساعت تېر او کش و فش یې برابر دی درې کروزینه او درې څلور ډا ټسنې له باډیګاردانو ډکې ورپسې ګرځي.

- ښه د ټپي کېدلو کیسه دې راته وکړه، چېرې او څنګه ټپي شوې؟

- پنځه کاله وړاندې چې، حزبیان شمالي ته راننوتل نو په چیکل کې مو د جګړې لومړۍ کرښه وه، زه د ګروپ قوماندان وم. موږ د حزبیانو د چریک له ویرې د خپلې پوستې شا وخوا ماینونه ښخ کړي وو. کله کله به هغوی چریکي حملې کولې، موږ به ورته کمین نیوه او کله بیا موږ حملې کولې او هغوی به.... کله چې، سردار آغا خپله کیسه رئیس ته کوله نو زما بدن ورو – ورو مېږي مېږي کېده، له مبهم اضطراب سره مخ شوم، په ډېر تلوار او ناکرارۍ مې د کیسې د پاتې برخې د اورېدلو هیله لرله.)): یوه شپه چې، هغوی ښه مخ ته راغلي وو موږ ورته په کمین کې په دې هیله ځان غلی کړی وو چې، ټول ژوندي ونیسو، ځکه د ژوندیو اسیرانو بیه تر مړو ډېره لوړه وه. د هر اسیر په سر به یې کورنۍ له پنځه زره لکه افغانیو څخه نیولې آن تر شل او

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پرش زره لکو افغانۍ راکولې خو مړي به بیا له زر دوه زرو لکو افغانیو پورته نه خرڅېدل.

کله چې، هغوی ببرته ستنېدل نو مور پرې ناتاره ډزې پېل کړې. د مرمیو او اور له کبله فضا سپین پړق شوه ډېر حزبیان مو ووژل، ډېر مو ژوندي ونیول. کله چې له جګړې وروسته خپل مرکز ته نږدې شو، ناڅاپه د ماینونو په کتار وربرابر شو. په لږه شېبه کې زموږ ډېر ملګري هم والوتل، د ماینونو ډیرې برچې پر ما هم برابرې شوې او بیا شپږ مه ورځ پوه شوم چې په روغتون کې یم.

کله چې سردار اغا کیسه ختمه کړه نو ما ته تېرو ختونه سترګو ته ودرېدل. ټوله صحنه مې د ذهن په سکرین تېره شوه، لکه د کوم فلم ستوري چې، په کوم فلم کې کار کړی وي او بیا هماغه فلم د سینما په پرده ګوري، ځان راته هم ډېر ظالم او هم ډېر مظلوم ښکاره شو، وجدان مې د سردار اغا د ړندو سترګو او غوڅو لاسونو د مظلومیت د پړې د منلو او نه منلو په کشمکش کې وو چې، رئیس راباندې غږ کړ: ))ښه ځوانه ستا نوم څه شی دی؟ د پلار نوم دې څه شی دی...(( ما هم ځوابونه ورکړل خو کله یې چې، وپوښتلم کله او چېرې ټپي شوی یې؟ نو هک پک پاتې شوم چې، څه ځواب ورکړم. رئیس زما هیښتیا حس کړه بیا یې وویل: ((ته هېڅ پروا مه کوه دا یوه بې پلوه او بهرنۍ موسسه ده، ټولو معیوبینو ته په یوه سترګه ګوري، د چا له تنظیم او ځای سره کار نه لري ته بالکل ډاډه اوسه.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو زما ستونزه د تنظیم رسوا کېدل یا د نیولو وېره نه وه زه سردار اغا ته ځوربدم. رئیس ته مې وویل، صاحبه !د سردار اغا کیسه خو دې واورېده. همدا زما کیسه هم ده. خو زه له حزبیانو سره وم.مور پـه همدې شپه لاړو د دوی د پوستو د شا وخوا هغه ماینونه مو چې، دوی مور ته ایښي وو د هغې نقشې له مخې چې، د دوی یو تن ملګري پر مور پلورلې وه وو بستل او په نورو هغو ځایونو کې مور ښخ کړل چې، د دوی تګ را تګ پرې ډېر وو څه مو نور هم ورسره اضافه کړل. کله چې، ببرته خپل سنګر ته ستنبدلو نو د دوی په کمین واوښتو او زه د دوی د پیکا د مرمیو ښکار شوم اوس مې د خېټې او د بدن نور ټپونه ښه دي خو پښه مې په خپله وینې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ګلاپي دانې

دګرمۍ خپسې خپلې منګولې خښې کړې وې ، دتاوده لمر دوړانګو نېزې به پر بدن داسې لګېدې ، تا به وېل چې ګوندې له لیزر شعاع سره مخ یم. په اډه کې ډول ډول غټو او کوچنیو موټرو سپرلۍ ته انتظار ویست په لوړ غږ جلال آباد ، جلالآباد ویلو دکېلنډرانو ستوني وچ شول، دیو کاستر دکیلنډر چې پر ما ستر ګې ولګېدې نو را منډه یې کړه له لاسه یې ونیولم او بې سوال او ځوابه یې دموټر دروازې ته راښکلم. ما ځان کلک کړو درېدم :وروره خېرېت خو دی ؟ته خو لومړی ځان پوه کړه چې زه پر دې موټر کې ځم او که نه؟... خو هغه زما خبرې په نیمه کې غوڅې کړې: ( (بسلمانه یو نفر کم ده ور خېزه ځې روانیږي پراخه سیټ ده که نه همدلته به ولاړ یې. ) ) زه چې موټر ته وروختم ، رښتیا هم چې دډریور شا ته درې کسیز سیټ کې یو هلک او دوه ښځې ناستې وې ،خو دهمدې سیټ پر برابرۍ ددروازې خواته یو کسیز سیټ خالي وو. بیک مې مخې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېښود او پـه همـدې سـيټ کښېناستـم ۰ډريـور داډې پرچـه راواخېستـه موټر روان شو ،ټولو مسافرېنو هسک ته دخپلي عـاجزۍ دښودلو او دعـا لاسونه پورتـه کړل٠ دخوشـبو لپـاره مطلقـه چوپتيـا  حـا کمـه وه خوډريـور دنغمې دکېسټ پـه ايښـودلو سره ، پـه لـومړي ځل شـونډو تـه دسـپړيدلو چانس ورکړ((استاده غږ يې ټيټ کړه ) ) بل به غږ کړ (( مـونږ يـې نـه اورو دا وروستي لا سپيکرونه يې بند کړه ) )مـا او زمـا تـر څنـګ دښځو  خواتـه ناست هلک ته هم دخبرو پلمه پـه لاس ورغلـه او دکسټ پـه اړه مودخلکو په قضاوت تبصرې پيل کړې ٠دکاستر په دې درې کسيز سېټ زمـا خواتـه همدا هلک ، خواتـه يې يوه دپاخه عمر ښځه اودښځې ترڅنګ شيشـې سره  يوه بلـه انجلۍ ناسته وه چې دښاريانو  پـه څېر يـې دسـپين څادر پيڅکه له پوزې تاوه کړې وه زما او ددې هلک خبرو ، ددې انجلۍ پام هم مونږ ته کړ او په لومړي ځل يې نيم پټ مخ زمونږ لور تـه راواړاوه کلـه چې زما او دهغې سترګې وجنګېدې نو ساه مې پـر بـدن کـې تيروبيره شوه،له ويښـتو تـر پونـدو مې ټول بدن لکـه پـه ستنو چوخ چوخ او ميـږي ميـږي شودا سترګې ، لکه چې سترګې نـه ،برېښـنا وي ، ټول بـدن تـه يې  جټکـه راکړه ، دې سترګو په خپـل برېښـنايي ټکـان ، زمـا دسترګو پـه رګـو کـې وينه وچه کړه  ، دومره يې وزېښلې چې نور يـې دخوځېدو مجـال نـه وو ، همدا سې بې سېکه او بې حر کته دهغو سترګو ، پـه کاسو کې پـا تـې شـوې ٠نور نو زه نه پوهېدم چې خواکې ناست ملګرى مې څه وايي خو  کلـه کلـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دده دتېر ا ېستلو پـه خـاطر ورتـه سر خو ځوم او دا ډول تـا ثـر ور کـوم چې ګوندي خبرو ته يې زما پام دی٠

تور سرک دوړې ښامار په څېر دموټر دټايرونو لاندې ځغلي ٠ زه پـه دې فکر کې يم چې له سترګو سره مې څه ډول مرسته وکړم چې لږه ساه پـه کې وغوړېږي او ددې سترګو ، له خم نه درا وتلو متره په کې پېدا شي ، لـه نـيم نـه ډيـر مـخ يـې پـټ دی، پـوزه يـې هـم تـاوه ده ،يـوازې دتـنـدي او دانـنـګـو برنۍ برخـه کـې يـې د سـپـين ململ تـه ورتـه پوسـتکي لانـدې ګلابـي دانـې ښکارېدې ؛زه ټول سوچ سوچ ګرځېدلی يم چې څنګه بـه وکـولی شم هغـه مخ ټول وګورم چې د دا ډول جادو ګرو سترګو دکوربـه تـوب وېاړ لـري٠ ګرمۍ ټوله سپرلۍ تېرې کړه ډرېور ته يې دموټر ودرولو غږ وکړ ، ډر يـور هم ديو بازار تر څنګه موټر د سرک غاړې ته کړ، دانجلۍ تـر څنـګ دنا ست هلک او ښځې په شمول ټوله سپرلۍ له موټره ښکته شوه. زه هـم وروسـتی کس وم چې له موټره ښکته شوم خو انجلۍ کراره پـه خپـل څوکـۍ نا سـته وه نـه مـې تنـده پـه يـاد وه او نـه ګرمـي ،اخـوا ور تـاو شـوم ، دډريـور د دروازې تر څنګ ودرېدم او لـه شيشـو څخـه چې دګرمۍ لـه لاملـه ټولې خلاصې وې هغه څارم ، سترګې مې له سترګو لاند ې په هماغې نښتـي دي ، انجلۍ پکی راواخېست او ځانته يې وهل پېل کړل پـه همـدې وخـت کـې هلـک داوبـو ډک ګـيلاس پـه لاس مـوټر تـه وروخـوت او هغـې تـه يـې ور وړاندې کړ ،انجلۍ ګيلاس واخېست او داوبو څښلو لپاره يې دوه ګوتې دکينې غوږ خواته وړاندې کړې ، دڅادر پيڅکـه يـې خلاصـه کـړه ، مـخ يـې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوخ کړ ، شو نډو تـه ورتـه ګلاب يې پـه ګیلاس کیښـودل او ددې پـه دې کـوچني حرکـت سـره زمـا لـه لاس او پښـو دمـه وختلـه،دزړه شيشـه مـې يـې٠دانـه وانـه کـړه٠ دزړه دشـاهين وزرې مـې وسـوځېدې ، پـه ځمکـه راولوېد٠ له ځانه مې پوښتنې پېل کړې:دا بـه پيغلـه وي او کـه واده ؟دابـه دکوم ځای وي ؟دکومې کورنۍ او دڅالور بـه وي ؟لـه رنګ او جـامو خو ښاری او لوستواله ښکاري چې ښاری بـه وي او کـه کليوالـه ؟آيا کلـه بـه هم ددې ګل په ليدلو زما دسترګو ليد ډېر شي ؟آيـا دا بـه زمـونږ جونګړه قبولـه کړي؟بيـا وايـم چې دا ډول ګل کلـه څوک پـه بوټي کې پريـږدي !! هرومرو بـه واده وي او کيدلی شي چې همدا تر څنګ ناست هلک يې ميړه وي٠ دې ځوان تـه مې زړه کې کينـه راوپارېده٠موټر چې روان شو نـودې هلک او انجلۍ ډېره خوږه مرکه پېل کړه پـه دومره ورو اوله حيـا څخـه ډک غږ چې ايله همدوی اوريـده ، کلـه کلـه بـه يـو بـل تـه مسـکې شـول چې زمـا دکينې په اور بـه يې نور هم پطرول وشيندل له ځانه سره کرم او ريبم چې پـه هر ډول وي ددې انجلۍ دکور درک بـه معلوموم ، داسې تصميم مې ونيـوه چې دوی هر چېرتـه ښـکته شول نـو زه بـه هـم هملتـه ښـکته کېـږم ، دوی بـه تعقيبوم او پـه داسې ډول بـه د دو ی کور ګورم چې دوی راباندې پـوه هـم نـه شـي٠ لـه هلـک سـره دخبـرو پـه ترڅ کـې دومـره پـوه شـوی وم چې نومـوړی دننګرهار پوهنتون محصل دی٠

موټر جلالآباد کې اډې تـه ورسـېد سـپرلۍ ښـکته کېدل پېـل کـړل. دې هلک ډريور تـه وويل چې استاده لـه مـا سـره نـاروغ دی نـو کـه تـر مخـابراتو

(c) ketabton.com: The Digital Library

چوک پورې مې ورسوې احسانمن (منندوی) به دې یم ۰ ډریور هم ورسره ومنله ما هم ورته پلمه وکړه چې زه هم مخابراتو ته ځم ، په سوچ کې شوم چې په دوی کې خو یو هم ناروغ نه ښکاري او بیا دومره کلک ناروغ چې له موټره هم ښکته کېدلی ونه شي ؟ بیا مې له ځان سره وویل چې کېدلی شي چې دا ښځه به ناروغه وي۰

موټر د مخابراتو چوک د کابل زړې اډې تر څنګ ودرېد ښځه او هلک دواړه ښکته شول سامانونه یې لاندې کېښودل خو انجلۍ له ځایه هم نه خوځېږي ، ما له خپل ببک سره ځان غولاوه چې په همدې کې هلک راغی دانجلۍ د سپېڅ مخې ته کښیناست ، شا یې وروړاندې کړه اوورته یې وویل:( (خورې را په شا شه ) )انجلۍ یې هم له غاړې لاسونه ورتاو کړل او ورپه شا شوه ترې و یې پوښتل : چېر ته ځو ؟ هلک ورته وویل خورې هماغه ډاکتر ته دې بیا یم چې ستا له ملا څخه یې پرچې ویستې دي۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ګناه

دمخابراتو په څلورلارې کې زرګونه خلک تماشې ته راټول شوي وو. دډېر بير وبار له لاسه خلک ديوبل په اوږو سپاره او ونو ته ختلي وو دڅلورلارې په مرکزي چوک کې يې دفيصلې داورولو لپاره قاضي ته لوی ستيج جوړ کړی وو ډېر مشران، چارواکي او عام خلک راغلي وو خلک وېرې اخستي او ترهېدلي وو٠زه د دوه سپېره ډاټسن په منځ کې په داسې ډول کښېنول شوی وم چې، لاسونه او پښې مې له يوبل سره په پربړ پلاستيکي پړي کلک تړلي او بيا مې پړی له ملا تاو او له شاته سپټ سره کلک تړلی وو٠د موټر شاوخوا په سلګونو ، پيکا او کلاشنکوفونو سنبال څو څښور طالبان ولاړ وو قاضي ددوسيي په لوستلو پيل وکړ:((له زور او جبر پرته دمجرم په خپله خوښه دده داعتراف او په ګوښه ځای کې له يو ښکلي هلک سره دده دليدلو پراساس محکمه کټورد خيال باز زوی د برکلي اوسېدونکي ته دلواطت په جرم دمرګ سزا اوروي څرنګه چې، ددې جرم سزا په شريعت کې تر ديوال لاندې کېدل ټاکل شوي نو مونږ هم دې مجرم ته دمرګ سزا اوروو او د ده دوژلو لپاره موږ ده دښاروالۍ درياست د پخوانۍ زړې لوېدلې ودانۍ دديوا ل غورځول ټاکلې دي او تاسو ته مو ځکه په راډيو او اخبار کې ددې حد دتطبيق خبر درکړی چې، له دې فا سق مجرم څخه عبرت واخلئ او داسې ګناه ګانې ونه کړئ ))٠ څو ځله مې دتېښتې هڅه وکړه خو ډېر کلک يې تړلی وم٠ دمحکمې دفيصلې دتطبيق وخت راغی زه يې له موټر څخه راښکته او لاس او پښې تړلی دپاخه سېمنټي ديوال لاندې وغورځولم٠ دخلکو شور ماشور شو :[(معاف يې کړئ ډېر ښکلی ځوان دی] ، [دی خو مونږ پېژنو دا خو په دې ټول ښار کې ښه هلک دی ] ، [زه قسم خورم چې په دې کې داخبرې نشته چا ورته دسيسه جوړه کړې ده]له هرې خولې ساړه اسويلي خېژي خو په چارواکو اغېز نه کوي٠يو غټ بلدوزر راغی دېواله ته اړم شو له يوه ټکان سره يې ديوال وخوځاوه او په دوهم ځل دېوال ته د بلدوزر دخولې له اړمېدلو سره سم دېوال پر ما راغی او له خولې مې يوه ناتراشه چيغه ووته له همدې سره مې مېرمنې په وارخطا يي راباندې غږ کړ:(( دځونډي پلاره ! دځونډي پلاره !څه خبره ده پورته شه پورته شه ولې وو برېدلې کلمه ووايه)) زه هم راويښ شوم په کټ کې کښيناستم ، سترګې مې وسولولې خولې مې پاکې کړې او يو اوږد اسويلی مې ووېست.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سور تعویذ

## ( د لنډو کیسو ټولگه)

محمد حسن حقیار

۱۳۹۴ل کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

# کتاب پېژندنه:


د کتاب نوم: سور تعویذ

لیکـــوال: محمد حسن حقیار

خپرونـدی: د افغانستان ملي تحریك، فرهنګي څانګه

وېـبپـاڼـه: www.melitahrik.com

ډیزاینګر: ضیاء ساپی

پښتۍ ډیزاین: فیاض حمید

چـاپشمېـر: ۱۰۰۰ ټوکه

چـاپـکـال: ۱۳۹۴ ل کال/ ۲۰۱۵م

د تحریك د خپرونو لړ: (۴۷)


یادونه: د چاپ حقوق له ملي تحریک سره خوندي دي او د کتاب د محتوا مسولیت لیکوال پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک


سرلیک ........ مخ

فیصله..........................................۱

ارزښتونه......................................۷

باور............................................۱۰

بختور واده...................................۱۷

بد گومانه....................................۲۳

بې غمي.......................................۳۰

بې وطنه......................................۳۲

بېوسه.........................................۳۷

تروریست.....................................۴۷

تمرین.........................................۵۲

زړه هدیره....................................۵۷

سور تعویذ....................................۶۳

شفر...........................................۷۲

غبرګې جنازې...............................۷۵

قربانیان......................................۸۰

ګلاپي دانې ..................................۸۷

ګناه...........................................۹۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مننه او کور ودانی

د افغانستان ملي تحریک د هېواد پال او فرهنګپال شخصیت ښاغلي (محمد اقبال عزیزي) څخه د زړه له تله مننه کوي چې د دې اثر چاپ ته یې اوږه ورکړه. ملي تحریک ویاړي چې د علمي اثارو د چاپ لړۍ یې پیل کړې ده. دا لړۍ به دوام لري. موږ له ټولو درنو هېوادوالو څخه په خورا درنښت هیله کوو چې په خپل معنوي او مادي وس د کتابونو د چاپ دا لړۍ لا پسې وغځوي.

یو ځل بیا د دې اثر له لیکوال او چاپوونکي څخه د زړه له تله مننه کوو چې د دې اثر د لیکلو او چاپولو جوګه شول.

په فرهنګي مینه

د افغانستان ملي تحریک

(c) ketabton.com: The Digital Library



قاضي محمد حسن حقيار

د افغانستان ملي تحریک
www.melitahrik.com

د خپرونو لړ: ۴۷

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**